# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۵۱ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۴۰۰، د زمري ۹مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانی








د زمري اوومه د ملي بیرغ ورځ؛ د هېواد درې رنگه ملي بیرغ، د افغانانو هویت، غرور او ویاړ دی.
ولسمشر غني د ملي بیرغ د ورځې له امله جوړو شویو مراسمو کې وویل: «د هېواد ملي بیرغ د افغانانو د ویاړ او یووالي نښه ده او امنیتي ځواکونه ددغه بیرغ د رپانده ساتلو لپاره هره ورځ سرښندنې کوي.

۸ صبح
د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زیری




# سرکرښې

## د افغانستان روان وضعیت؛ د نړیوالو اندېښنې

ولسمشر محمد اشرف غني د بیرغ د ملي ورځې له امله جوړو شویو مراسمو کې ویلي داسې پلان برابر شوی چې ډېر زر به وضعیت بدل شي.

ولسمشر وایي چې د افغان دولت غړ د سولې دی، ټول افغانان د سولې په هکله ګډې اجماع ته رسېدلي او د افغان حکومت نیت د ارزښتونو ساتل او د نظم رامنځته کول دي.

په دې لړ کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن هند ته د سفر پرمهال د طالبانو د بریدونو پر دوام اندېښنه څرګنده کړې او له دغې ډلې یې غوښتي چې تاوتریخوالی پای ته ورسوي او خبرو ته حاضر شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي که څه هم امریکایي ځواکونه له افغانستانه د وتلو په حال کې دي خو ددغه هېواد وضعیت له نږدې څاري. بلینکن زیاته کړې چې د افغانستان د کړکېچ د اواري یوازینۍ لار مذاکرات دي نه جګړه.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ټینګار کړی چې پاکستان د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي په درولو کې مهم رول لري او باید له خپل نفوذه کار واخلي.

له بلې خوا، د روسیې دفاع وزیر ویلي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل، په دغه هېواد کې د وضعیت د خرابېدو او ترهګرو فعالیتونو د زیاتوالي لامل شوي دي. د روسیې د دفاع وزیر سرګي شویګو د زمري په شپږمه نېټه له خپل تاجک سیال سره په کتنه کې له افغانستانه د بهرنیو په تېره بیا امریکایي ځواکونو وتل په بیړه وبلل.

د روسیې دفاع وزیر ویلي چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په بیړه وتل د وضعیت د خرابېدو لامل شوي چې مناسبو اقداماتو ته اړتیا ده او په دې برخه کې هڅې رواني دي.

دا په داسې حال کې دي چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي چې د بهرنیو ځواکونو په وتلو سره طالبان ځانونه بریالي ګڼي او لیرې ښکاري چې خبرو ته دې غاړه کېږدي.

اخوا، د استرالیا د بهرنیو چارو وزیرې ماریس پین د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر محمد حنیف  اتمر سره په تلیفوني خبرو کې په افغانستان کې د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

د استرالیا د بهرنیو چارو وزیرې ویلي چې دغه هېواد په افغانستان کې د عادلانه او تلپاتې سولې ملاتړ کوي او د سولې خبرو پر دوام ټینګار لري.

د افغانستان د روان وضعیت په اړه د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د مشرانو اندېښنې په داسې حال کې مطرح کېږي چې په دې وروستیو کې په هېواد کې جګړې زور اخیستی او طالبانو په تېرو څه د پاسه دوو میاشتو کې له سلو زیاتې ولسوالۍ نیولې دي.

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې په قطر کې د افغان دولت او طالبانو د پلاویو ترمنځ یو ځل بیا خبرې پیل شوې خو داسې ښکاري چې په دغو مذاکراتو کې تراوسه کوم پرمختګ نه دی شوی.

# لیکلړ

● ولسمشر غني: له نړيوالې ترهګرۍ سره مخامخ یوو ........ ۱
● په ورځ کې د ۲۳۵ تنو وژل کېدل؛ افغانستان سختې ورځې تېروي ........ ۲
● یوناما: د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ملکـي تلفات... ........ ۳
● د روم له خبرپاڼې د کابل هرکلی؛ د راتلونکي دولت پر اساسي... ........ ٤
● چین ته د طالب پلاوي د سفر په وړانـدې د افغان دولت غبرګون ........ ۵
● عمران خان: د امریکایي ځواکونو وتلو ته په پام سره ګرانه ده چـې... ........ ٦
● د هېواد د مالي نظام ستونزه؛ اجمل احمدي د افغانستان بانګ لپار... ........ ۷
● لنډۍ ........ ۱۰
● مریدنامه ٣٤ ........ ۱۱
● له ځوان لیکوال او ژباړن حضرت عثمان نـوري سره ځانګـړې مرکه ........ ۱۲
● د روسیې دفاع وزیر: له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو وضعیت... ........ ۱۳
● یوازې په تېرو ۱۵ ورځو کې څه د پاسه ۱۴ زره کورنۍ بې ځایه شوې دي ........ ۱٦
● حکومت د هېواد د بندرونو او بازارونو د مدیریت لپاره ګډ میکانیزم... ........ ۱۷
● پر اوو تجارتي بندرونو د طالبانو واکمني؛ د بېرته نیولو لپاره یې هڅې... ........ ۱۸
● د ملي امنیت شورا رول او ځای؛ لیدلوري او  واقعیتونه ........ ۱۹


د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: م. ظ. صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب
زمان سهیل او محتاج اصیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

۱
۸صبح
پښتو مجله ◆ لومړی کال ◆ ۵۱ مه ګڼه ◆ شنبې ◆ د ۱۴۰۰ د زمري ۹مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ

## ولسمشر غني:

# له نړیوالې ترهګرۍ سره مخامخ یوو



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني وايي چې ماحول بدل شوی او افغانستان له نړیوالو ترهګرو سره مخامخ دی.

ولسمشر د زمري په څلورمه نېټه د څارنې او انسجام د ګډ بورډ په ناسته کې وویل چې افغانستان په روان کال کې د نړیوالو ترهګرو له یرغل سره مخامخ دی.

ولسمشر ډاډ ورکړ چې جمهوریت خوندي پاتې کېږي، ځکه د هغه په باور نړیواله ټولنه د افغانانو ترڅنګ ولاړه ده.

ولسمشر همداراز د څارنې او انسجام د ګډ بورد د ناستې لپاره د دولتي ادارو د چمتووالي ستاینه وکړه او وې ویل: که څه هم افغانستان په روان کال کې له وچکالۍ، جګړې او کورونا سره مبارزه کوي، د هېواد اقتصاد یو سلنه وده کړې ده، چې د هغه په وینا د خلکو لپاره ښه خبر دی.

د هېواد ولسمشر په داسې حال کې جوته کړې چې هېواد له نړیوالې ترهګرۍ سره مخامخ دی چې کابو نوې سلنه بهرني ځواکونه له افغانستان وتلي دي.

دا په داسې حال کې دي چې په افغانستان کې ددغو ځواکونو د ماموریت موخه له نړیوالې ترهګرۍ سره مبارزه وه. امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو د اعلان پرمهال ویلي و چې دا هېواد له ترهګرۍ سره په مبارزه کې خپلو موخو ته رسېدلی دی.




## د بشري حقونو کمېسیون:

# ملګری ملتونه دې د جنګي جنایتونو د څېړلو لپاره پلاوی راولېږي

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ملګروملتونو له سازمانه غوښتي چې د جنګي جنایتونو او ښکېلو لوریو د سرغړونو د څېړلو لپاره دې یو حقیقت موندونکی پلاوی راولېږي.

دغه بنسټ د زمري په څلورمه نېټه په یوه خبرپاڼه کې د بشري حقونو شورا د فوق العاده ناستې د جوړېدو او د ملګروملتونو سازمان له خوا د بشري ضد جنایتونو د څېړلو په موخه د پلټونکي پلاوي د رالېږلو په هکله د بهرنیو چارو وزارت د غوښتنې هرکلی کړی دی.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې د جګړې د قربانیانو لپاره د عدالت د ټینګښت په موخه ددغه پلاوي رالېږل اړین دي. خو دغه کمېسیون ویلي چې د سرغړونو په اړه د مطرح شویو تورونو د څېړلو لپاره باید د پلاوي کار هراړخیز او جامع وي.

دغه بنسټ زیاته کړې چې پر سیدالشهدا ښوونځي له برید وروسته یې هم د بشري حقونو د سرغړونو په تېره بیا د مدني فعالینو او د رسنیو د کارکوونکو د هدفي وژنو او پر ښوونیزو مرکزونو، قومي او مذهبي لږکیو د بریدونو په اړه یې د ملګروملتونو سازمان د خپلواک او متخصص پلاوي د رالېږلو غوښتنه کړې وه.

## په ورځ کې د ۲۳۵ تنو وژل کېدل؛

# افغانستان سختې ورځې تېروي



◆ راپور: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړه: م. ع. پ

د جګړې په ډګر کې ثبت شوې شمېرې ښیي چې له هېواده د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره هم مهاله د تاوتریخوالي او شخړو کچه لوړه شوې ده. د دغو شمېرو پر بنسټ د روان کال د مې له لومړۍ نېټې د جولای تر پینځلسمې پورې په هېواد کې څه باندې دوه زره او ۹۰۰ امنیتي پېښې شوې دي. د دغو پېښو په پایله کې کابو ۱۷ زره او ۶۰۰ طالب جنګیالي، افغان پوځیان او ملکي وګړي وژل شوي دي. د پېښو، تاوتریخوالي او وسله والو نښتو د سیمو پلټونکي بنسټ یا «ACLED» د معلوماتو له مخې، په تېرو دوو میاشتو کې ورځنی تلفات ۲۳۵ تنو ته رسېږي.

دا ترټولو لوړه شمېره ده چې په وروستیو میاشتو کې په هېواد کې ثبت شوې ده. په هېواد کې د تاوتریخوالي کچه داسې مهال لوړه شوې چې افغان دولت او نړیوالې ټولنې له طالبانو غوښتي چې اوربند وکړي او د سولې جدي خبرو ته سره کښېني. خو دغو غوښتنو ته تر دې دمه مثبت ځواب نه دی ورکړل شوی او جګړو زور اخیستی دی. تازه ولسمشر غني ویلي چې طالبان د سولې لپاره اراده نه لري، د همدې لپاره داسې طرحه په پام کې لري چې پر بنسټ به یې امنیتي وضعیت له درېیو تر شپږو میاشتو موده کې بدلون ومومي.

د ولسمشر دغه وینا د طالبانو له توند غبرګون سره مخ شوه او هغوی خبرداری ورکړ چې د راتلونکو شپږو میاشتو هر ډول امنیتي بدلون مسؤلیت به د افغان دولت د مشرانو پر غاړه وي.

**د «ACLED» د موندنو په اساس، د مې میاشتې له لومړۍ د جولای تر پینځلسمې نېټې پورې د تاوتریخوالي کچه لوړه شوې ده. د دغه بنسټ د شمېرو له مخې په تېرو ۷۵ ورځو کې دوه زره او ۹۰۳ چاودنې، هوایي بریدونه او نښتې شوې دي. په دغو شمېرو کې دوه زره او ۱۷۰ نښتې، ۶۱۰ چاودنې او هوایي بریدونه او پر ملکي وګړو ۱۲۳مخامخ بریدونه راغلي. د دغو تاوتریخوالیو په پایله کې ۱۷ زره او ۶۲۱ تنه مړه شوي دي. په وژل شویو کې امنیتي ځواکونه، طالبان او ملکي وګړي شامل دي. په دې توګه د ورځنۍ جګړې تلفات ۲۳۵ دي.**

د زونونو پر اساس د ACLED بنسټ شمېرې ښیي چې د نښتو ترټولو لوړه کچه د هېواد په سویل، ختیځ او شمال ختیځ زون کې ده. د دغه بنسټ د معلوماتو له مخې، په تېرو ۷۵ ورځو کې په نیمروز، ارزګان، هلمند، کندهار او زابل ولایتونو کې د ۴۲۶ نښتو، ۱۲۰ چاودنو او پر ملکي وګړو د ۱۸ بریدونو رپوټ ورکړل شوی دی. د دغو امنیتي پېښو په پایله کې څلور زره او ۷۵۳ طالبان، افغان امنیتي پوځیان او ملکي وګړي وژل شوي دي، په دې توګه له سویلي حوزې وروسته شمالي او شمال لوېدیځ ولایتونه له ډېرو امنیتي پېښو سره مخامخ شوي دي. د ACLED بنسټ د شمېرو پر بنسټ د هېواد شمالي په ولایتونو لکه بلخ، فاریاب، جوزجان، سمنګان او سرپل کې ۳۲۷ نښتې، ۱۱۶ چاودنې او پر ملکي وګړو ۱۳ مخامخ بریدونه شوي دي. **د دغو پېښو په پایله کې له بېلابېلو سیمو دوه زره او ۸۷۳ تنه وژل شوي دي. د هېواد په شمال ختیځو ولایتونو لکه کندز، بدخشان، تخار او بغلان کې د ۳۷۳ نښتو، ۷۴ چاودنو او پر ملکي وګړو د ۱۵ بریدونو ۱۵ راپور ورکړ شوی دی. په دغو پېښو کې دوه زره او ۹۱۱ تنه وژل شوي دي.**

همداراز د هېواد په لوېدیځ زون کې چې د هرات، غور، فراه او بادغیس ولایتونه په کې دي، د ۲۷۸ نښتو، ۶۹ چاودنو او پر ملکي وګړو د ۱۸ مخامخ بریدونو خبر ورکړ شوی دی. په تېرو دوه نیمو میاشتو کې په دغو سیمو کې دوه زره او ۱۴۰ تنه وژل شوي دي.

د هېواد ختیځ ولایتونه هم له امنیتي پېښو سره مخامخ شوي دي. د ACLED بنسټ د شمېرو له مخې په ننګرهار، کنړ، لغمان او نورستان ولایتونو کې په تېرو دوه نیمو میاشتو کې ۲۶۶ نښتې، ۷۶ چاودنې او پر ملکي وګړو ۱۶ بریدونه شوي دي. په دغو پېښو کې یو زر او ۷۶۴ تنه وژل شوي دي. پکتیا، پکتیکا، لوګر او خوست ولایتونه هم ارام نه وو او په کې د امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ سختې نښتې شوې دي. د دغه بنسټ د معلوماتو له مخې، په دغو ولایتونو کې ۲۵۲ نښتې، ۷۳ چاودنې او پر ملکي وګړو د تاوتریخوالي ۱۴ موارد ثبت شوي دي. په دغو پېښو کې یو زر او ۲۴۶ تنه وژل شوي دي.

د ACLED بنسټ همداراز ویلي چې په مرکزي زون کې ترټولو کمې امنیتي پېښې شوې دي. د دغه بنسټ د معلوماتو له مخې، په بامیان، دایکندي، غزني او وردګ ولایتونو کې ۱۹۷ نښتې، ۴۴ چاودنې او پر ملکي وګړو ۸ مخامخ بریدونه رامنځته شوي دي. په دغو ولایتونو کې یو زر او ۳۸۲ تنه وژل شوي دي. په دې توګه د کابل حوزې او د کابل په شمال کې ترټولو کمې امنیتي پېښې شوې دي. په دغو سیمو کې ۱۲۶ نښتې، ۵۵ چاودنې او پر ملکي وګړو ۲۶ بریدونه شوي. په دې موده کې په دغو سیمو کې ۸۳۳ تنه وژل شوي دي.

په ورته وخت کې امنيتي بنسټونه هم وايي چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو سره هممهاله په هېواد کې د تاوتريخوالي کچه لوړه شوې ده. خو دغه موارد د اختر په ورځو کې ډېر ؤ.
د کورنيو چارو وزارت وياند ميرويس ستانکزي له ۸صبح سره په خبرو کې وويل چې طالبانو د تېرو اخترونو خلاف په دې اختر کې تاوتريخوالی زيات کړ. هغه زياته کړه چې طالبانو د دغو بريدونو پرمهال په ډېرى مواردو کې ملکي وګړي په نښه کړي دي. په ورته وخت کې هغه ټينګار وکړ چې امنيتي بنسټونه له هغې وروسته مکلف شول چې خپل يرغليز بريدونه پراخ او ولايتونه له طالبانو پاک کړي. هغه د ولسمشر خبرو ته په اشارې سره وويل چې امنيتي وضعيت به په درېيو تر شپږو مياشتو کې بدلون ومومي.
ولسمشر غني د اختر په لومړۍ ورځ وويل چې طالبان د سولې لپاره اراده نه لري او اوس د دې وخت رارسېدلی چې د هغوی پر وړاندې ملا وتړل شي. هغه دوحې ته د افغان دولت د پلاوي سفر ته په اشارې سره وويل چې دغه سفر هرڅه روښانه کړل. په همدې اساس ولسمشر وويل چې تر راتلونکو درېيو يا شپږو مياشتو به امنيتي طرحه عملي شي چې د جګړې وضعيت به بدلون ومومي.
**طالبانو ډلې د دغو څرګندونو په وړاندې غبرګون ښودلی دی، د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد د زمري په لومړۍ نېټه د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې په راتلونکو شپږو مياشتو کې د هر ډول پوځي بدلون مسؤليت به د افغان دولت د مشرانو پر غاړه وي.** د نوموړي په وينا د طالبانو ډله له خپلو سيمو په کلکه ساتنه کوي او د دولت له لوري د جګړې د دوام په صورت کې به دا ډله يوازې په دفاعي حالت بسنه ونه کړي. مجاهد زياته کړې ده: «اسلامي امارت اصولي او سوله ييز دريځ لري، خو زموږ بهرني او کورني دښمنان د سولې پر ضد ګامونه پورته کوي او د روغې جوړې لپاره هېڅ چمتووالی نه لري.» په دې توګه هغه افغان دولت د سولې په تخريب تورن کړی او ويلي يې دي چې نه غواړي د هېواد ستونزه د خبرواترو له لارې حل شي.
د پېښو، تاوتريخوالي او وسله والو نښتو د سيمو پلټونکی بنسټ يا «ACLED» يو نادولتي بنسټ دی چې له ۱۹۹۷ کال راهيسې د پېښو د شمېر او د نښتو د سيمو په برخه کې فعاليت کوي. دغه بنسټ د پېښو د څرنګوالي، نېټې، عامل، قربانيانو او ځای په اړه معلومات راټولوي او د ځانګړي کوډ په ثبتولو سره يې په اړه څېړنه او شننه کوي. ACLED د ۲۰۱۶ کال له پيله تر دې دمه د افغانستان د جګړې د تلفاتو په اړه شمېرې او معلومات ثبت کړي دي. د دې بنسټ د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۱۶ کال له پيل راهيسې د افغانستان په جګړه کې ۱۲۰ زره تنه وژل شوي دي. ACLED داسې مهال په هېواد کې د تلفاتو د زياتوالي خبر ورکوي چې د بهرنيو ځواکونو د وتلو بهير ۹۰ سلنه بشپړ شوی دی. امريکا اعلان کړی چې دغه بهير به د اګست مياشتې تر پايه بشپړ شي. له دې سره هم مهاله د طالبانو بريدونه هم زيات شوي دي. طالبانو په تېرو دوه نيمو مياشتو کې څه باندې سل ولسوالۍ نيولې دي.

# یوناما:
## د روان میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ملکي تلفات ۴۷ سلنه زیات شوي دي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر يوناما په خپل تازه راپور کې اعلان کړی چې د روان زېږديز کال له جنورۍ تر جون مياشتې ملکي تلفات ۴۷ سلنه زيات شوي دي.
د يوناما د بشري حقونو د څانګې رييسې فيونا فريزر د زمري په څلورمه نېټه وويل چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو او د طالبانو د بريدونو له زياتوالي وروسته، دغه بنسټ امنيتي پېښې ارزولې او د دغو جګړو له امله د تلفاتو شمېر يې ثبت کړی دی.
د يوناما د مالوماتو له مخې، يوازې د ۲۰۲۱ ميلادي کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په افغانستان کې پينځه زره او ۱۸۳ ملکي وګړي مړه او ټپيان شوي دي. له دې ډلې يو زر او ۶۵۹ وژل شوي او درې زره او ۵۲۴ تنه نور ټپيان دي.
دغه بنسټ ويلي چې د ملکي وګړو د تلفاتو له ثبتولو راهيسې دا لومړی ځل دی چې د ټولنې ددې پرګنې تلفات لوړې کچې ته رسېدلي دي. د يوناما د راپور له مخې، په روان کال کې د ملکي تلفاتو کچه د تېر کال په پرتله ۴۷ سلنه زياته شوې ده.
له بلې خوا، فريزر خبرداری ورکړی چې د ملکي تلفاتو د زياتوالي له امله زيانونه د اندېښنې وړ دي او د هغه په باور ډېره اندېښنه ګڼ ميشتو سيمو او لويو ښارونو ته د جګړې د لمنې پراختيا ده.
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان دفتر ملکي تلفات د ټولو ښکېلو لوريو طالبانو، داعش او د هېواد د ملي امنيت ځواکونو کار بولي.
يوناما زياته کړې چې دا ملکي وګړي په تېرو شپږو مياشتو کې د مينونو په چاودنو، ځمکنيو بريدونو، هدفي وژنو او هوايي بريدونو کې مړه او ټپيان شوي دي. ددغه بنسټ په وينا، په افغانستان کې د ملکي تلفاتو نيمايي ښځې او ماشومان دي.
يوناما همداراز پر مذهبي لړکيو د بريدونو زياتوالی، په تېره بيا پر هزاره وګړو بريدونه د اندېښنې وړ بولي.
له بله پلوه، فريزر ټينګار کړی چې طالبان او دولت بايد بشري حقونو او انساني کرامت ته درناوی وکړي او افغان دولت هم بايد د تاوتريخوالي او له خلکو سره د ناوړه چلند عاملينو د نيولو لپاره لازيات کار وکړي.

# د روم له خبرپاڼې د کابل هرکلی؛

## د راتلونکي دولت پر اساسي اصولو دې هوکړه وشي




◆ لیکوال: حسین حیدري
◆ ژباړن: م. ع. پ

د امریکا، اروپایي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناروې او بریټانیا ځانګړو استازو د روم له ناستې وروسته د یوې خبرپاڼې په خپرولو له افغان دولت او طالبانو ډلې وغوښتل چې د افغانستان د راتلونکي دولت پر اساسي اصولو دې هوکړه وکړي.

**په خبرپاڼه کې راغلي چې دولت او طالبان باید د دایمي او هراړخیز اوربند، د انتقالي حکومت د جزئیاتو او سیاسي هوکړې ته د رسېدو لپاره په خپلو کې هوکړه وکړي. د دغو هېوادونو استازو ټینګار کړی چې د انتقالي حکومت جوړښت باید د ټولو افغانانو حقونو ته په درناوي او د افغانستان د نړیوالو ژمنو او همداراز د ترهګرو ضد ژمنو، پربنسټ وي. د افغانستان په اړه د روم ناسته د چنګاښ په ۳۱مه د ایټالیا په روم ښار کې وشوه.**

بهرنیو چارو وزارت د دغې ناستې له خبرپاڼې هرکلی کړی دی.

د بهرنیو چارو وزارت په خبرپاڼه کې چې د زمري په دویمه خپره شوه، راغلي: «د ناټو سازمان، اروپایي ټولنې، امریکا، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناروې او انګلستان د ځانګړو استازو له خبرپاڼې چې د زمري په لومړۍ نېټه د ایټالیا په روم ښار کې د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي درېدو، د چټک اوربند د ټینګښت او په افغانستان کې سیاسي حل لارې ته د رسېدو په موخه صادره شوې، هرکلی کوي.» په دې خبرپاڼه کې د هېوادونو او سازمانونو ځانګړو استازو سیاسي حل لارې ته د رسېدو په موخه له افغانستان سره د همکاریو د دوام په اړه په خپلو ژمنو د پېنځو اساسي برخو په پام کې نیولو سره ټینګار کړی دی. په دغو اصولو کې ټولګډونه حکومتولي، د سیاسي مشرۍ د ټاکلو لپاره د خلکو حق، د ښځو، ځوانانو او لږکیو حقونو په ګډون د بشري حقونو ساتنه، د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره دوامداره ژمنتیا چې ډاډ ترلاسه شي، افغانستان د ترهګرو په خوندي سیمې نه بدلېږي او نړیوالو بشردوستانه قوانینو ته درناوی پکې شامل دي.

بهرنیو چارو وزارت د روم ناستې د خبرپاڼې پېنځه اصله د تلپاتې سولې او ثبات د ټینګښت لپاره د افغانستان د خلکو او دولت د واقعي ارادې پر بنسټ ګڼلي او ملاتړ یې ترې کړی دی.

ټول ګډونه حکومت، د سیاسي مشرانو د ټاکلو حق، له بشري حقونو، د ښځو، ځوانانو او لږکیو له حقونو ملاتړ، د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره دوامداره ژمنتیا چې ډاډ ترلاسه شي، افغانستان به د ترهګرو په خوندي سیمې نه بدلېږي او همداراز نړیوالو بشردوستانه قوانینو باندې عمل هغه عناصر دي چې دغو هېوادونو یې د سولې په وروستۍ هوکړه کې په عملي کولو ټینګار کړی. د دغو هېوادونو استازو زیاته کړې چې له راتلونکي حکومته ملاتړ به لړ تر لړه په دغو پېنځو عناصرو پورې تړاو ولري.

**ښه حکومتولي، قانون، بشري حقونو، د ښځو او نجونو د دوو لسیزو لاسته راوړنو ته ژمنتیا، له فساد سره د مبارزې لپاره د دولت پرېکنده ګامونه او د جنیوا ژمنو عملي کول هم د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې د مرستو له اوسنیو شرایطو څخه ګڼل شوي دي.**

د جنیوا غونډه د ٦٦ هېوادونو او ۳۲ نړیوالو بنسټونو په ګډون له افغانستان سره د څلور کلنو مرستو د جلب په موخه شاوخوا شپږ میاشتې مخکې جوړه شوه. مرسته کوونکو هېوادونو له افغانستان سره په مشروط ډول ۱۳ میلیارد ډالره مرسته اعلان کړه او پر ببړنې او سراسري اوربند، د سولې له بهیره پر ملاتړ، د وروستیو دوو لسیزو د لاسته راوړنو پر ساتنې او د سولې په پروسه کې د ښځو پر ونډې یې ټینګار وکړ.

د امریکا، اروپایي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناټو، ناروې او بریټانیا استازو ټینګار کړی چې د افغانستان مسئله پوځي حل لاره نه لري او هغه دولت چې د زور او پوځي ځواک له لارې

راشي، د منلو وړ نه دی.

د دغو هېوادونو د استازو د خبرپاڼې په یوه برخه کې راغلي چې، د جولای په ۱۸مه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او طالبانو ترمنځ په لوړه کچه مذاکرات ترسره شول، په راتلونکې کې باید په دغه ډول ناستو کې پر اصلي موضوعاتو خبرې وشي.

د نوموړو هېوادونو استازو له طالبانو غوښتي چې زرترزره خپل بریدونه ودروي. په دې خبرپاڼه کې ټینګار شوی چې ټول اړخونه باید تاوتریخوالی کم کړي او له ملکي وګړو دې ساتنه وکړي او نړیوالو بشردوستانه ژمنو ته دې درناوی وکړي.

د امریکا، اروپایي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناټو، ناروې او برېتانیا استازو په ځانګړې توګه له طالبانو غوښتي چې خپل بریدونه ودروي.

**په خبرپاڼه کې له دولت او طالبانو غوښتل شوي چې په معنی لرونکي ډول د سولې په بهیر کې ګډون وکړي. د دغو هېوادونو استازو د چټک اوربند پر اړتیا ټینګار کړی دی. له دې مخکې طالبانو د دولت له لوري د خپلو اوه زره بندیانو د خوشي کېدو په صورت کې د درې میاشتیني اوربند وړاندیز کړی ؤ.**

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله هم له دې خبرپاڼې هرکلی کړی دی. ښاغلي عبدالله په یوه ټویټ کې ویلي: «موږ اصلي اصولو او مهمو ارزښتونو ته ژمن یؤ او یو ځل بیا د سیاسي هوکړې او مذاکراتو له لارې د عادلانه او تلپاتې سولې غوښتونکي یؤ.»

امریکا، اروپایي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناټو، ناروې او برېتانیا ویلي دي چې افغانان له اوږدو شخړو اندېښمن دي او د تاوتریخوالي له لوړې کچې، د طالبانو بریدونو او په هغو سیمو کې چې جګړه روانه ده د بشري حقونو له سرغړونو کړېږي. نړیوالې ټولنې یو ځل بیا د سولې له هغې پروسې ملاتړ اعلان کړی چې مشري یې د افغانانو پرغاړه وي او په هغې کې د ښځو معنی لرونکی حضور تمثیل شي.

د امریکا، اروپایي ټولنې، فرانسې، جرمنې، ایټالیا، ناټو، ناروې او برېتانیا استازو د افغان امنیتي ځواکونو په ګډون د افغانستان له بنسټونو خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

**نړیوالې ټولنې ټینګار کړی چې دواړه لوري دې په ښه نیت خبرو ته سره کښېني چې یوې عادلانه او دایمي سیاسي حل لارې ته ورسېږي او هغوی د مذاکراتو د پرمختګ لپاره له هر ډول اسانچاري درېیم ګړي او منځګړي ملاتړ او هرکلی کوي.**

له دې مخکې د دولت مرکچي پلاوي وړاندیز کړی ؤ چې ملګری ملتونه دې د مذاکراتو منځګړیتوب وکړي، خو طالبانو په دې اړه مخالفت ښودلی ؤ.

دوحې ته د ملي روغې جوړې د عالي شورا د رئیس عبدالله عبدالله په مشرۍ د دولت د لوړپوړي پلاوي سفر هیله منډي زیاته کړې وه؛ خو دغه سفر د پام وړ پایلې نه لرلې. په ورته وخت کې د روم د ناستې ګډونوالو هیله منډي ښودلې چې د دواړو لوریو لوړپوړي پلاوي دې په راتلونکو کې هم په خپلو کې سره کښېني او پر مهمو او اساسي مواردو دې خبرې اترې وکړي.

# چین ته د طالب پلاوي د سفر په وړاندې د افغان دولت غبرګون



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت چین ته د طالبان پلاوي د سفر په غبرګون کې ویلي چې افغان دولت له دغه هېواده تمه لري چې د سیمه ییزې اجماع او تاوتریخوالي د پای ته رسولو، اوربند د ټینګښت، د سولې د راتلو او په هېواد کې د بهرنیو ترهګرو د فعالیت بندولو لپاره پر دغې ډلې د فشار په راوړلو کې رغنده رول ولوبوي. د بهرنیو چارو وزارت د زمري په شپږمه نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې دا وزارت چین ته د طالب پلاوي له سفره خبر و. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، چین افغان دولت له دغه سفره خبر کړی و او ددې سفر موخه په افغانستان کې د امنیتي وضعیت او د طالبانو په لیکو کې د بهرنیو جنګیالیو د فعالیت په هکله د چین اندېښنه وه.

دغه وزارت جوته کړې چې چینایي چارواکو له طالب پلاوي سره په کتنه کې د طالبانو د وروستیو بریدونو په اړه چې د ملکي تلفاتو او زرګونه تنو د بې ځایه کېدو لامل شوي خپله ژوره اندېښنه څرګنده کړې ده. د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي چې چین له طالبانو غوښتي سیاسي حل لارې ته غاړه کېږدي او د سیمې او نړۍ له ترهګرو سره دې اړیکې پرې کړي.

د ویلو ده چې د ملابرادر په مشرۍ د طالبانو ډلې یوه نهه کسیز پلاوي چین ته سفر وکړ. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم په خپله ټویټر پاڼه کې ویلي چې ددوی پلاوی د زمري په پینځمه نېټه د چین په رسمي بلنه هغه هېواد ته سفر وکړ. د نوموړي په خبره دغه پلاوي د چین د بهرنیو چارو له وزیر وانګ یي او همداراز د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال او د افغانستان په چارو کې د نوموړي هېواد له ځانګړي استازي سره کتلي دي.

د محمد نعیم په وینا، په دغو کتنو کې د افغانستان د سولې بهیر، سیاسي، اقتصادي او امنیتي مسایلو په اړه خبرې اترې شوې دي.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ویلي، دغې ډلې چین ته ډاډ ورکړی چې د افغانستان خاوره به د هېڅ هېواد پرخلاف ونه کارول شي.

د هغه په وینا چین هم له افغانانو سره د همکارۍ او د افغانستان په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې ډاډ ورکړی دی.

د طالبانو پلاوی په داسې حال کې چین ته سفر کوي چې دغې ډلې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې خپلو بریدونو ته زور ورکړی دی. طالبانو په وروستیو میاشتو کې له سلو زیاتې ولسوالۍ نیولې دي.

## عمران خان:

# د امریکایي ځواکونو وتلو ته په پام سره گرانه ده چې طالبان جوړجاړی وکړي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان له (PBS) امریکایي تلوېزیون سره په مرکه کې ویلي چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په وتلو سره، گرانه ده چې طالبان دې جوړجاړي ته غاړه کېږدي.

د اسلام آباد چاپ ډان ورځپاڼې د زمري په شپږمه نېټه په یوه رپوټ کې ویلي، عمران خان په دغه مرکه کې ټینگار کړی چې امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو په ایستلو د نوموړي هېواد وضعیت گډوډ کړی دی.

هغه په افغانستان کې له پوځي لارې د ستونزو پر اواري نیوکه وکړه او وې ویل: «زما په شان کسان چې تل مو ویلي د افغانستان ستونزه پوځي حل لاره نه لري، امریکایي ضد وبلل شول، زه طالب خان وبلل شوم.»

عمران خان د خواشینۍ په ځرگندولو سره ویلي، امریکا ډېر په ځنډ پام شوی چې د افغانستان مسله پوځي حل لاره نه لري. د پاکستان لومړي وزیر ټینگار کړی، امریکا باید هغه مهال چې په افغانستان کې د ناټو ۱۵۰ زره پوځیان مېشت وو، سیاسي هوکړې ته یې مخه کړې وای. د هغه په وینا کله چې امریکا د وتلو پرېکړه وکړه، طالبانو فکر وکړ په جگړه کې بریالي شوي او اوس ډېره گرانه ده چې جوړجاړي ته غاړه کېږدي. هغه ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیا د طالبانو بیا راتگ د افغانستان لپاره مثبت پرمختگ دی، ویلي چې یوازې سیاسي هوکړه ښه پایله کېدای شي. عمران خان زیاته کړې، ښکاره ده چې طالبان به د افغانستان د راتلونکي دولت یوه برخه وي.

له بلې خوا، د پاکستان لومړي وزیر په افغانستان کې د کورنۍ جگړې په اړه خبرداری ورکړی او ویلي یې دي: «د پاکستان په اند دا ترټولو بده سناریو ده؛ ځکه له هغې وروسته له دوو ننگونو سره مخ یوو، یوه یې د کډوالو ستونزه ده.»

عمران خان زیاته کړې چې په اوسني وخت کې پاکستان د کابو درې میلیونه افغان کډوالو کوربه دی او د کورنۍ جگړې په صورت کې به دغه هېواد ته د کډوالو شمېر زیات شي.

خو هغه ټینگار کړی چې نور نو پاکستان د کډوالو منلو وس نه لري. د پاکستان لومړي وزیر همداراز ویلي که په افغانستان کې کورنۍ جگړه رامنځته شي، د پاکستان پښتانه هم په دغه جگړه کې ښکېلېږي. عمران خان همداراز، له طالبانو پوځي، اطلاعاتي او مالي ملاتړ رد کړی او هغه یې ناعادلانه خبره بللې ده. نوموړي ویلي چې پاکستان په تېرو څو کلونو کې د افغانستان د جگړې یوه برخه و او دا چاره ددې لامل شوې چې څه د پاسه اویا زره پاکستانیان ژوند له لاسه ورکړي.

عمران خان په داسې حال کې دغو مواردو ته اشاره کړې چې له دې مخکې ولسمشر غني هم ویلي و چې طالبان د جگړې د پای ته رسولو او سولې د ټینگښت اراده نه لري. ولسمشر ویلي و، داسې طرحه یې برابره کړې چې له مخې یې په درېیو تر شپږو میاشتو کې د افغانستان امنیتي وضعیت بدلون مومي.

# د هېواد د مالي نظام ستونزه؛

## اجمل احمدي د افغانستان بانک لپاره څه کړي؟



◆ لیکنه: حسیب بهش
◆ ژباړه: م. ظ. صمیم

**دوهمه او وروستۍ برخه:** زموږ اسناد ښیي چې اجمل احمدي د افغانستان بانک د پخوانیو کارکوونکو پرځای په ناقانونه او پلان شوي ډول نوي وګړي ګومارلي دي. د اسنادو له مخې، په ګومارل شویو کسانو کې ډېری یې د صنعت او سوداګرۍ وزارت او د ولسمشرۍ د مالي او بانګي چارو پخواني کارکوونکي دي چې له دې مخکې د احمدي د ډلې غړي ؤ. د افغانستان بانک د قانون او مقرراتو له مخې له اړتیا او ارزونې وروسته د عالي شورا له خوا بست تصویبېږي، د اشخاصو د شرایطو لړلیک جوړېږي، له تحریري آزموینې او کمیټې له ټاکلو وروسته د عامل پلاوي په لاسلیک کارکوونکي ګومارل کېږي. همدارز **د افغانستان بانک قانون د ۲۳مې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي چې عامل پلاوی د اړوندو تقنیني اسنادو پربنسټ د بانک کارکوونکي او استازي ګوماري او ګوښه کوي یې. دا په داسې حال کې ده چې ګومارنې او په ځانګړي ډول له شپږمو بستونو پورته ګومارنې باید د عامل پلاوي په تصویب سره وشي چې په هغې کې ډېری رایې د بانک رئیس له لاسلیک پرته درې رایې دي.**

خو د اجمل احمدي د دندې پرمهال ګومارنې داسې دي چې هغه یوازې د کارکوونکي پر غوښتنې او د بستونو د ډکولو لپاره پر خپل فرمان بسنه کړې. د بېلګې په توګه په یوه لیک کې راغلي: «ښاغلی نورالله د محمد الله زوی چې خپل ځان د اداري او تجارت برخې لیسانس او په دولتي او خصوصي ادارو کې د تجربې لرونکی معرفي کوي، د یوه غوښتنلیک له لارې د افغانستان بانک کې د دندې غوښتنه کړې چې د افغانستان بانک د ریاست سرپرست د ۱۳۹۹ کال د زمري میاشتې د ۲۳مې نېټې حکم له مخې دغه آمریت ته راجع او داسې لارښوونه یې کړې ده: د بشري سرچینو آمریت دې! اصولي اجراات وکړي.»

د مکتوب په دوام کې راغلي: «ملاحظه شوا د عامل پلاوي د نصاب تر بشپړېدو پورې په وراندیز شوي بست کې نورالله د محمدالله زوی ګومارل منظور دي، د بشري سرچینو آمریت مکلف دی چې د نوموړي مقرري د عامل پلاوي لومړنۍ ناستې ته وړاندې کړي.» په دې توګه هغه د استخدام له پړاوونو لکه، نوم لیکنې، شارټ لېست، آزموینې، مرکې، د تحصیلي او کاري تجربې اسنادو له ارزونې او سیالۍ پرته نېغ په نېغه مقرر شوی دی. دغه ګومارنه د اسد په ۲۳مه شوې او دوام یې هم د عامل پلاوي پورې اړوند ګڼل شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د اجمل احمدي له راتګه تر دې دمه بانک عامل پلاوی نه لري؛ ځکه چې اجمل احمدي د بانک دوه مرستیالان په بېلابېلو بڼو له خپلو دندو ګوښه کړي دي. همدارز تراوسه څرګنده نه ده چې کله به عامل پلاوی بشپړ شي. سربېره پر دې د بانک عالي شورا هم بشپړه نه ده او له اوو غړو یې یوازې پینځه موجود دي.

**د خپلې کورنۍ د غړو ګمارنه**


ددغو ګمارنو ترڅنګ، ځینې ګمارنې د کورنۍ د غړو دي، د بېلګې په توګه دوه وروڼه چې د اجمل احمدي همکاران او نږدې دوستان دي، په لږ موده کې د بانګ په بېلابېلو برخو کې ګمارل شوي دي. په یوه مورد کې د محمد احسان زوی محمد مومن وکیلي چې ادعا لري د اداري او تجارت او نړیوال تجارت په څانګو کې د ماسترۍ دوه سندونه او په دولتي او نادولتي ادارو کې اوه کاله کاري تجربه لري، په یوه غوښتنلیک کې یې په بانک کې د کار کولو غوښتنه کړې او اجمل احمدي هم د ۴۱۸ ګڼې حکم پر اساس د ۱۳۹۹ کال د زمري په ۲۳مه نېټه د ریاست د عالي مقام د اجرایوي اسیستانت په توګه د ګمارلو امر لاسلیک کړی دی.

یوازې دوې میاشتې وروسته د هغه ورور د بانګ په یوه بله برخه کې ګمارل شوی دی. د ۱۳۹۹ کال د تلې په شلمه نېټه د ۵۵۹ ګڼې حکم له مخې، دا ځل د محمد احسان زوی محمد یاسین وکیلي چې ځان یې د هند له پونې ښار څخه د اداري او تجارت ماستر معرفي کړی په بانګ کې یې د شاملېدو غوښتنه کړې او د افغانستان بانک د تدارکاتو د عمومي آمر په توګه ګمارل شوی دی. کابو شل تنه چې ډېری یې په بانګي چارو کې یوه ورځ کاري تجربه هم نه لري د سوداګرۍ او صنعت له وزارت او د ولسمشرۍ د اقتصادي سلاکار له دفتره له آزادې سیالۍ پرته په د افغانستان کې بانک کې په دندو ګمارل شوي دي.

د بېلګې په توګه یارمحمد رستم او شبنم امیني چې دواړه د سوداګرۍ له وزارته په د افغانستان بانګ کې د مالي پیاوړتیا پروژې د آمر او مېرمن امیني د ریاست د دفتر د آمرې او وروسته د نړیوالو اړیکو آمریت د مرستیالې په توګه ګمارل شوي، په داسې حال کې چې دواړه په بانګولۍ کې هېڅ کاري تجربه نه لري.

د ویلو ده چې ډېری دغه ګمارنې ولسي جرګې ته د رایو اخیستو لپاره د اجمل احمدي له تلو مخکې شوې دي. دا په داسې حال کې دي چې د ملي امنیت پخواني رییس رحمت الله نبیل د ۱۵۹۸ کال د لیندۍ په یوولسمه نېټه د نوماند وزیرانو او د افغانستان بانګ د نوماند رییس د معرفي کولو پرمهال ویلي و چې اجمل احمدي د ولسي جرګې د یوه غړي په کور کې د جرګې غړو ته پیسې ورکړې چې په بدل کې یې هغه ته رایه ورکړي. له دې سره سره اجمل احمدي او د افغانستان بانګ، هغه مهال ددغو تورونو په هکله هېڅ غبرګون ونه ښوده. سربېره پر دې د نوموړي او د یونایټډ بانګ د خاوند جاوید جیحون تصویرونه هم په داسې شرایطو کې خپاره شول چې جیحون غوښتل د نوموړي پر اوږو چپنه وراچوي. د مالي او بانګي چارو کارپوهان دا کار د ګټو یو ډول تضاد ګڼي.

باید جوته کړو چې په دغو ګمارنو کې د افغانستان بانګ د سرپرست د دفتر د عمومي آمریت په چوکۍ د یارمحمد رستم ګمارل جنجالي موضوع ده؛




آمریت محترم خدمات عمومی!

موضوع: تعیین و توظیف محترم احمد بشیر فرزند عبدالقهار

با تقدیم احترامات فایقه؛

محترم احمد بشیر فرزند عبدالقهار که خویش را محصل برحال دورهٔ ماستری در رشته اداره تجارت و دارای سابقه کاری در ادارات دولتی وغیر دولتی معرفی نموده، طی درخواستی خواهان شمولیت در دافغانستان بانک گردیده که در زمینه ، حکم شماره ... مورخ ۱۳۹۹/۴/۲۲ محترم سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک به این آمریت راجع و چنین هدایت ارشاد نموده اند:

(آمریت منابع بشری! اجراآت اصولی نمائید)

متعاقباً به اساس پیشنهاد این آمریت ، مقام محترم طی حکم شماره ۱۰۰۷ مورخ ۱۳۹۹/۷/۱ چنین هدایت ارشاد فرموده اند:

(آمریت منابع بشری! توظیف احمد بشیرمطابق متن پیشنهاد الی تکمیل نصاب هیئت عامل غرض جلو گیری از سکتگی امور ... است . آمریت منابع بشری مکلف است تا تقرری موصوف را غرض منظوری به اولین جلسهٔ هیئت عامل محول دارید )

بناً موصوف در گرید (۶) ستپ اول به حیث آفیسر املاک و جایداد های شما تعیین و توظیف گردید . معاش و سایر حقوق ... از تاریخ اشغال وظیفه قابل اجرا بوده، شعبات ذیربط به سهم خویش اصولاً اجراآت نمایند.

با احترام

اجمل احمدی

سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک

به آمریت محترم زون مرکز!

موضوع: توظیف محترم احمد راتب فرزند عبدالحسیب بصفت مدیر غرفه میدان هوائی حامد کرزی

با تقدیم احترامات فایقه؛

محترم احمد راتب فرزند عبدالحسیب که خویش را لیسانس رشتهٔ اداره تجارت از پوهنتون پشاور و دارای چندین سال تجارب کاری در ادارات دولتی و غیردولتی معرفی نموده ، طی درخواستی خواهان شمولیت در دافغانستان بانک گردیده که در زمینه ، حکم شماره ۴۷۰ مورخ ۱۳۹۹/۵/۲۳محترم سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک به این آمریت راجع گردیده و چنین هدایت ارشاد نموده اند:

( آمریت منابع بشری! درزمینه اجراآت اصولی نمائید)

متعاقباً به اساس پیشنهاد این آمریت ، مقام محترم طی حکم شماره ۱۰۴۵ مورخ ۱۳۹۹/۷/۹ چنین هدایت ارشاد فرموده اند:

( ملاحظه شد ! توظیف احمد راتب مطابق متن پیشنهاد الی تکمیل نصاب هیئت عامل غرض جلوگیری از سکتگی امور منظوراست . آمریت منابع بشری مکلف است تقرری موصوف را غرض منظوری به اولین جلسهٔ هیئت عامل محول دارد . )

بناً موصوف در گرید (۸) ستپ اول به حیث مدیر غرفهٔ میدان هوائی حامد کرزی تعیین و توظیف گردید . معاش و سایر حقوق شان از تاریخ اشغال وظیفه قابل اجرا بوده، شعبات ذیربط به سهم خویش اصولاً اجراآت نمایند.

با احترام

ځکه د بانګ د پخوانیو کارکوونکو په وینا، دغه کس د مکتوبونو منځپانګه د اجمل احمدي په رضایت برابروي. د بانګ ځینې پخواني کارکوونکي وايي، یارمحمد رستم د هغه صلاحیت له امله چې لري یې، د اجمل احمدي د ټیم د غوښتنو له نه عملي کېدو وروسته، ددغو کارکوونکو د ګوښه یا بدلولو لپاره زمینه برابره کړې ده. د بېلګې په توګه، د افغانستان بانک د تدارکاتو مخکینی مرستیال وايي، یارمحمد رستم له هغه غوښتي و د بانک د ځینو مخکینیو کارکوونکو د دوسیو په اړه لوېږ څارنوالۍ ته د راپور وړاندې کولو پرمهال، داسې مالومات وړاندې کړي چې ددغو کارکوونکو پرخلاف او د اجمل احمدي د ډلې په ګټه وي. هغه زیاته کړه چې لوېږ څارنوالۍ ته په دې اړه د واقعي راپور له وړاندې کولو وروسته یې په هماغه ورځ بست تنزیل او د بانګولۍ انستیتوت ته بدل شو او په کابو یوه میاشت کې یې کاري بست د هغه انستیتوت له تشکیله هم لیرې شو. د ویلو ده چې سرچینې یارمحمد رستم د بانګ د مرستیالۍ چوکۍ لپاره د احمدي د نظر وړ کس په توګه یادوي او ددې کار عملي کېدل په د افغانستان بانګ او د هېواد د مالي برخې په مشرتابه کې د جدي کړکېچ پیلامه ګڼي.

**د بدلونونو تشه؛ له بانګه بهر کسان د بانګ له موټرو کار اخلي**

په دغه بانګ کې یوازې دا بدلونونه نه دي، بلکې د روان کال د غبرګولي په وروستیو کې او کله چې اجمل احمدي د خپل واده د مراسمو لپاره دوبۍ ته ولاړ، یو بل کس یې د سرپرست په توګه وټاکه. د افغانستان بانګ د بانګي عملیاتو عمومي آمر عبدالواحد جبارخېل د غبرګولي په ۲۶مه نېټه په داسې شرایطو کې د سرپرستۍ مسوولیت واخیست چې بانګ عامل پلاوی او مرستیال نه لرل او د قانون پربنسټ، مسوولیت باید لوړپوړو کارکوونکو ته وسپارل شي. په دې توګه احمدي د لومړي بست یو کارکوونکی د څه مودې لپاره د بانګ د چارو د سمبالولو په توګه وټاکه.

له دې مخکې او په بانګ کې د بدلونونو په لړ کې، احمدي د بانګ امنیتي ډله هم بدله کړه. دا بدلون له هغې وروسته وشو چې د مخکیني کابل بانګ یوه ونډه لروونکي عبدالغفار داوي د زمري په شپږمه نېټه په بانګ کې له اجمل احمدي سره وکتل. د افغانستان بانګ مسوولینو په هغه وخت کې جوته کړه چې دا کار له همغږۍ پرته شوی، خو سرچینې وايي چې د اجمل احمدي د کاري ټیم حضور په تېره بیا د دفتر د ځانګړي سکرتر حضور ته په پام سره دا ډول نه همغږي ناشونې ده؛ ځکه د بانګ امنیتي مسوولینو له دې مخکې د بانګ له کارکوونکو پرته چا ته د ورتلو اجازه نه ورکوله او په بانګ کې دا یوه معموله چاره ده.

په دې توګه، تصمیم ونیول شو چې د پخوانیو کارکوونکو پرځای نوي وګمارل شي. له دې اقدامه یوازې څو میاشتې وروسته د یما سیاووش د سپرلۍ پر موټر چاودنه وشوه چې د بانګ درې کارکوونکي پکې ووژل شول. د افغانستان بانګ په دې هکله د هېڅ ډول مالوماتو په نه ورکولو سربېره، آن د امنیتي کمرو تصویرونه هم د قربانیانو کورنیو ته نه دي ورکړي. اوس سرچینې وايي چې د پېښې د یوه دلیل په توګه د افغانستان بانګ په موټر کې د چاودېدونکو توکو د ایښودلو موضوع ته په پام سره بنایي د امنیتي ډلې د بدلون له امله امنیتي تشه رامنځته شوې وي؛ ځکه پخوانۍ امنیتي ډله د بانګ له اصولو سره بلده وه او کارکوونکي یې هم ښه پېژندل. همدا راز، اجمل احمدي ته ځینې نږدې وګړي چې له دې مخکې یې په صنعت او سوداګرۍ وزارت کې کار کاوه، د بانګ له موټرو د خپلو شخصي کاروونو لپاره استفاده کوي. دا په داسې حال کې دي چې اجمل احمدي د بانګ د سرپرست په توګه، د تېر کال د غبرګولي په اوولسمه نېټه د شخصي موخو لپاره د بانګ د موټرو د نه کارولو حکم صادر کړی و. په دې توګه، که څه هم په بانګ کې د هغه حکم د اجرا وړ بلل کېږي، خو هغه ته نږدې کسان چې د نورو بنسټونو کارکوونکي او په بانګ پورې هېڅ تړاو نه لري، په ځینو موردونو کې د بانګ له موټرو کار اخلي.

**د افغانستان بانګ له جدي ننګونو سره مخامخ دی**

که څه هم ۱۳۹۹ مالي کال د کورونا ویروس له خپرېدو سره مل و، خو شمېرې ښیي چې پر کړکېچونو سربېره، د افغانستان بانګ د پیسو سیاست مدیریت د بانګ په چارو کې بې اغېزې نه دی. د روښانه تګلارې له مخې، د افغانستان بانګ په معمول ډول د دولتونو او نړیوالو مرستندویه ادارو مرستې چې په دغه بانګ کې د مالیې وزارت په حساب زیاتېږي، په افغانیو سره د ورځې په نرخ پېرودل کېږي. د افغانستان بانګ دغه بهرني اسعار په بازارونو کې د افغانیو د ارزښت د ساتلو او کنټرول په موخه، ددې بانګ د پیسو د سیاست له لارې چې د پیسو لیلام بلل کېږي پلوري. په اصل کې د مالیې له وزارته د بهرنیو پیسو د پېر او په بازار کې د پلور ترمنځ توپیر، د بانګ د پیسو د معاملاتو له امله خالصه ګټه او زیات ښیي.

اوس په تېر مالي کال کې د افغانستان بانګ د تفتیش شوبو مالي حسابونو راپور ددې ښودنه کوي چې دغه بانګ د پیسو په لیلام کې سقوط تجربه کړی دی. د شمېرو له مخې، د افغانستان بانګ په ۱۳۹۸ مالي کال کې د دوه میلیارده او ۴۳۰ میلیون ډالرو له لیلام وروسته، څه د پاسه ۲۱ میلیارده افغانۍ ګټه کړې ده. خو دغه بانګ د اجمل احمدي د سرپرستۍ پرمهال د دوه میلیارده او ۱۲۷ میلیون ډالرو په لیلامولو سره، د ګټې په نه کولو سره سره، څه د پاسه ۱۲۴ میلیونه افغانۍ زیانمن شوی دی. دا په اصل کې د بهرنیو پیسو د لیلام په عوایدو کې ۱۰۱ سلنه سقوط ګڼل کېږي.

که څه هم د پیسو په لیلام کې تل گټه او زیان شته او په وروستیو کلونو کې د افغانیو په وړاندې د ډالر ارزښت هسک او ټیټ کېږي، خو لږترلږه په تېرو لسو کلونو کې دا لومړی ځل دی چې بانگ د پیسو د لیلام له پلوه د گټې پرځای زیان کوي. د ویلو ده چې دا موضوع لازیاتې څېړنې ته اړتیا لري؛ ځکه د پېرودل شویو پیسو د نرخ له پوهېدو وروسته د بانگ زیان او گټه روښانه شي. په تېرو ورځو کې د پیسو لیلام هم کم ساری و او د اجمل احمدي په مشرۍ د افغانستان بانگ د افغانیو د ارزښت د ساتلو په موخه، یوازې په ۳۵ ورځو کې څه د پاسه ۷۰۰ میلیون ډالر لیلام کړي دي. د بانگولۍ چارو کارپوهان د پیسو دا ډول لیلام د هېواد د سختو ورځو لپاره ستونزمن او د مالي سیاست لپاره خطرناک گڼي.

**په ټول کې، د افغانستان بانگ د ۱۳۹۹ مالي کال په بهیر کې یوازې درې میلیارده او ۷۸۱ میلیونه او ۱۳۹ زره افغانۍ گټه کړې ده. دا شمېر په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲۹ میلیارده او ۲۳۰ میلیونه او ۷۱۲ زره افغانیو ته رسېدلی و. په دې توگه د بانگ گټه ټوله کابو اته برابره کمه شوې ده. سربېره پر دې، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بانگ عواید له ۴۶ میلیارده او ۵۰۸ میلیونه او ۷۲۲ زره افغانیو څخه، په ۱۳۹۹ مالي کال کې ۲۴ میلیارده او ۹۳۴ میلیونه او ۴۱۹ زره افغانیو ته راکم شوي دي.**

په همدې توگه، په ۱۳۹۸ کال کې د افغانستان بانگ عملیاتي فعالیتونه له ۲۰۹ میلیارده او ٦۴۹ میلیونه او ۲۰۷ زره افغانیو څخه په ۱۳۹۹ مالي کال کې ۸۰ میلیارده او ۱۷۷ میلیونه او ۹۲۱ زره افغانیو ته راکم شوي دي. سربېره پر دې، د پانگونې فعالیتونو له امله خالص نغدي بهیر له منفي نهه میلیارده او ۱۳۸ میلیونه او ۲۰۷ زره افغانیو څخه منفي ۱۴۹ میلیارده او ۸۲۴ میلیونه او ۸۴۲ زره افغانیو ته زیات شوی چې کارپوهان یې په هغو برخو کې د پانگونې له امله گڼي چې لږ گټه یې لرلې ده. دا په داسې حال کې دي چې ولسي جرگه وایي چې په اوسني وخت کې د اجمل احمدي سرپرستۍ ته په پام سره له بانگ څخه د گټې تمه نه لري.
د مالي او بانگي چارو کارپوهان هم باوري دي چې د افغانستان بانگ د عوایدو کمښت څېړنې ته اړتیا لري. سیر قریشي ۸صبح ته وویل چې له دغه کمښت سره په یو وخت، د افغانستان بانگ مسوولین د بانگ د اسعارو زېرمو د ۵۰۰ میلیون ډالري زیاتوالي خبر ورکړی دی. د هغه په وینا، اړتیا ده چې د افغانستان بانگ په دې اړه سپیناوی وکړي چې د کورونا له امله د بانگ د میلیاردي عوایدو د کمښت ترڅنگ، د پیسو په زېرمو کې ۵۰۰ میلیون ډالر زیات شوي دي. هغه وویل، که ددې لامل د سرو زرو د نړیوالې بیې لوړوالی وي، نو دا د اجمل احمدي د کار حاصل نه دی. سیرقریشي په عوایدو کې دا کمښت د احمدي د ناسمې اداري او مشرۍ له امله بولي چې د افغانستان بانگ ته یې د هېواد د مالي او بانگي سیستم په توگه زیان رسوی.

**د جگړو په پراختیا سره، په نمایندگیو کې د پیسو د زېرمو زیاتوالی**

دغو مواردو ترڅنگ، د افغانستان بانگ راپور ښیي چې د افغانستان بانگ په ټپه ولاړې زېرمې زیاتې شوې دي. د ۱۳۹۹ مالي کال د حساب د راپور له مخې، د بانگ په زېرمو کې نه کارول شوې پیسې له ۱۹ میلیارده او ۵۸۳ میلیونه او ۳۳٦ زره افغانیو څخه ۳۴ میلیارده او ۱٦۷ میلیونه او ۳۴۱ زره افغانیو ته رسېدلې دي. دا شمېرې د افغانستان بانگ د نه کاروونکو زېرمو د ۷۵ سلنې زیاتوالی ښودنه کوي. دا په داسې حال کې دي چې د پانگونې په صورت کې، د ټکټانې عاید له دې لارې ترلاسه کېږي او د نه کارول کېدونکو پیسو په زیاتېدو سره د افغانستان بانگ گټه هم کمېږي. سربېره پر دې، د افغانستان بانگ په نمایندگیو کې د پیسو زېرمې هم د ۱۳۹۹ مالي کال په اوږدو کې زیاتې شوې دي. د ۱۳۹۹ مالي کال د مالي حسابونو په راپور کې راغلي چې د بانگ د نمایندگیو د پیسو زېرمې په ۱۳۹۸ مالي کال کې له یو میلیارد او ۱۲ میلیونه او ۴۲۵ زره افغانیو ۱۵ میلیارده او ۵۹٦ میلیونه او ۴۳۰ زره افغانیو ته رسېدلې دي چې په نمایندگیو کې د پیسو زېرمې ۱۵ سلنه زیاتې شوې دي.
دا کار په داسې حال کې شوی چې د هرې ورځې په تېرېدو سره د جگړو لمن پراخېږي او آن د ولایتونو د سقوط او د پیسو د زېرمو د له لاسه وتلو خطر هم مطرح دی. د ولسي جرگې غړي وایي چې اجمل احمدي د هېواد له شرایطو خبر نه دی او په خپلو ناسمو پرېکړو د ملي پیسو زېرمې له خطر سره مخامخ کوي. د ولسي جرگې د مالي چارو او بودیجې د کمېسیون غړی عبدالظاهر سالنگي ۸صبح ته وایي چې هېواد په بېړنې وضعیت کې دی او دا ډول نه سنجول شوي تصمیمونه د افغانستان د بربادۍ زمینه برابروي. د جرگې ځینې نور غړي دا یو ډول قصدي او پلان شوي کارونه بولي.

**د افغانستان بانگ د مخکینیو غړو تجربه ښیي چې په ولایتونو کې د پیسو د زېرمو زیاتوالی د اندېښنې وړ دی. کندز داسې ولایت دی چې تراوسه څو ځله د طالبانو له بریدونو او سقوط پورې رسېدلی دی. دوه ځله طالبانو نیولی، خو بېرته د افغان ځواکونو لاس ته ورغلی دی چې په دې بهیر کې د ځینو بانگونو زېرمې تالان شوې دي.**

شفیق الله شفق د اوو کلونو لپاره د هېواد په شمال ختیځ حوزه کې د افغانستان بانگ مسوول و او تخار، بدخشان، کندز او بغلان ولایتونه یې تر اداري لاندې وو. هغه د کندز په دوه ځله سقوط کې توانېدلی و د اوه میلیون ډالرو معادل په لومړي سقوط او د پینځو میلیون ډالرو معادل په دوهم سقوط کې وژغورلې او نورو بانگونو ته یې ولېږدول. نوموړي دا پیسې په داسې حال کې چې طالبان د ښار په څنډو کې وو، د کندز هوایي ډگر ته او له هغه ځایه په الوتکو کې مزارشریف ته ولېږدولې.
سیمه ییزو چارواکو په دې برخه کې همکاري نه وه کړې او آن ترې غوښتې یې و چې د سقوط په پلمه دا پیسې وویشي خو ښاغلي شفق له ځینو بنسټونو سره په همغږۍ دا پیسې وساتلې. له ځینو کړیو سره د هغه مخالفت او امنیتي گواښونو له امله کابل ته د بدلېدو غوښتونکی شو. د افغانستان بانگ که څه هم په دغو ولایتونو کې د هغه د ښه فعالیت له امله له بدلېدو سره یې مخالف و خو سره له دې یې وملنه او د بانگي د عملیاتو مرستیال په توگه کابل ته راغی.
خو کله چې اجمل احمدي د بانگ سرپرست شو، له کوم موجه دلیل پرته یې د دفتر د آمر یارمحمد رستم په هڅو سره د بانگولۍ انستیتوت د عملیاتي مسوول دندې ته بدل کړ. له یوې نیمې میاشتې وروسته یې د هغه تشکیل چې ۲۲ کارکوونکي یې لرل تنقیض کړ. په دې توگه ددې بنسټ اصلي کارکوونکي چې له کاري بهیر سره ښه بلد وو، تنقیص او ځینې یې د مرستندویه کارکوونکو په توگه بدل کړل. د افغانستان بانگ دغه پخواني مسوول جوته کړه چې په نمایندگیو کې د پیسو د زېرمو زیاتولو ته په پام سره په تېره بیا په اوسنیو ناسمو شرایطو کې د بانگ زېرمې خوندي نه شي پاتې کېدای.

**د مالي او بانگي چارو کارپوهان هم وایي چې د نمایندگیو د پیسو زېرمو زیاتوالی لازیات سپیناوي ته اړتیا لري. د غضنفر بانگ**

**پاتې په ۱٤م مخ کې**

# ادبي ورشو

## لنډۍ

يو ځلي بيا په دې لار راشه
په پخواني قدم دې پربوتل گردونه

يو ځلي راغی خوله مې ورکړه
لار يې صحې کړه په غضب ككړه شومه

يو خو دې غونډه منډه خوله ده
بل دې خبرې په كنډه تللي دينه

يو دې غريب پيدا كړم خدايه
بل دې مين په كبرجنې نجلۍ كړمه

يو زخم نه دی چې به جوړ شي
هزار زخمونه مې په زړه دي مړ به شمه

يو گوټ اوبه منگي نه راكړه
د وصال تږی يم اوبه پلمه كوومه

يو واري ټينگه غېږه راكړه
بيا دې دا دا ته توره وركړه چې راځينه

يوازې خدای به پرې خبر وي
د خندا ډكه خوله به چېرته ناسته وينه

يوازې ژوند مې په كار نه دی
چې آشنا لاړو زه به تور لحد ته ځمه

يا خو زما په زړه تياره ده
يا خو په ټوله دنيا پربوتل گردونه

يا خو زما نصيب خراب دی
يا خو به ټولې ياراني دغسې وينه

يم خړ پښتون خړ مې ژوندون دی
خړو جامو كې به فردوس جنت ته ځمه



## ملي بيرغ

په خوښيو كې ملي بيرغ ساتمه
په سختيو كې ملي بيرغ ساتمه
شرنگهار يې دومره خوږ په زړگي لگي
په بنگړيو كې ملي بيرغ ساتمه
داسې لويه تاريخي مچو ترې اخلم
په اُووريو كې ملي بيرغ ساتمه
زما گل، زما بلبل د ده په رنگ دی
په ځوليو كې ملي بيرغ ساتمه
درې رنگونه په درې رنگه تسبو وايم
په مريو كې ملي بيرغ ساتمه
د رڼا ورانگې يې شيندم په ښكلاوو
په ترورميو كې ملي بيرغ ساتمه
مرغلرې به د سولې پرې كتار كړم
په ځوندېيو كې ملي بيرغ ساتمه
احمدي يې د سينې ټټر كې ساتي
په كاليو كې ملي بيرغ ساتمه

گل آغا احمدي

## غــزل

موږ د آسمان په توپانو كې ډېوې وساتلې
تر اسرافيل پورې مو خپلې لمبې وساتلې
په رباتونو كې پېغور د پاتېدو نه لرو
تر سر منزل پورې مو خپلې سايې وساتلې
خطا منمه خو جانان راباندې پور نه لري
تر غرغړې پورې مې كړې وعدې وساتلې
كمزورې نه يوو په ښكاره نارې وهو چنبو يې
تر محتسب پورې مو ډكې پيالې وساتلې
دا به منو چې توره نه وي پښتو نه پاتيږي
درنې جرگې مو په لمبو كې تودې وساتلې
په اتڼونو كې زلمي، پر گودرونو نجونې
په شنو دښتونو كې مو تورې خېمې وساتلې
زه پوهېدم چې پر قولونو به وفا ونه كې
جانان په سرو شونډو كې نوې پلمې وساتلې
جهاني نن دې په كلام كې د ځوانۍ مستې ده
وروستي غزل ته مطرب نورې نغمې وساتلې

عبدالباري جهاني

# مریدنامه ۳۴

◆ لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال

په ښار کې ماتم و، ځو ورځې وړاندې سیلاو راغی و، او ډېر ښاریان یې وړي وو، ښارې نړولی او ودانۍ یې غورځولې وې. یوه غمجن ښاري چې سیلاو یې کورنۍ ورخخه وړې وه، مرید ته وویل: پاچا ته مو وویل، چې د اوبو بند جوړ کړي، خو پاچا زموږ خبره ونه منله، اخر سیلاو تباهي وکړه، پاچا خو په ماڼۍ کې بېغمه ناست دی سیلاو موږ تباه کړو....

مرید خپل ببرسري پیر ته مخ ورواړاوه او پاچا یې په کرکه یاد کړ.

ببرسري پیر وخندل او په کړس کړس خندا یې ښاري ته وویل: ستاسو ستونزه دا ده، چې د سیلاو له ګواښه خبر وئ، خو لا هم پاچا ته په تمه وئ، پاچا په دې پوهېده، چې سیلاو خلک وړي، نه پاچایان.

ښاري وپوښتل: یا پیره دستګیره نو موږ باید څه کړي وای؟

ببرسري پیر دا ځل مخامخ د ښاري سترګو ته وکتل او په تونده لهجه یې ځواب ورکړ: تاسو باید سره یوځای شوي وای او په ګډه مو بند ترلی وای، همدا تا باید ښاریان راټول کړي وای، چې بند وتړي او که تا دا همت کړی وای نن به ریښتینی پاچا ته وې، نه په شاهي کلا کې ناست سړی.

د جنونې مزدک سیمې ته ورسېدل. مزدک زوړ و او اوس څوک له ویرې نه ورتلل. ببرسري پیر او دهغه مرید مزدک ته وروختل، چې څه ګوري؛ پر دیوالونو یې د جګړې شیبې انځور شوې دي. په انځورونو کې یوې ډلې د بلې پرسینو نیزې خښې کړي وې او هاخوا دې بلې ډلې له خپلو سیالانو څخه سرونه غوځول.

مرید د ببرسري پیر لمن ونیوله، چې د مزدک راز ورته ووایي.

ببرسري پیر د مزدک برسر کې توري تیږې ته سترګې خیر کړې وې او ناځاپه یې کړس کړس وخندل، د پیر خندا د مزدک په تشې او تیارې فضا کې داسې انګازې وکړې، چې مرید وډار شو، ناڅاپه پیر مخ راواړاوه او دخپل مرید په سترګو کې یې سترګې ورخښې کړې: دغه مزدک عجیب طلسم درلوده، چې څوک به په ښي لاس پرې راتاو شو، هغه به یې دومره ګروهمن ( معتقد) کړ، چې د مزدک په مینه کې به یې توره له تېکې راوکښله، خو که زیارت کوونکی به په کیڼ لاس ترې راتاو شو، نو دومره به یې د مزدک په وړاندې کرکه او کفر زیات شو، چې نیزه به یې راپورته کړه او د مزدک پر ګروهمنو به یې ورهی کړل.

پر جنونې مزدک ګروهمنو او ناګروهمنو لسیزې لسیزې یو بل سره ووژل، خو هېڅ هوښیار پیدا نه شو، چې د مزدک په برسر کې هغه توره ډبره وپلټي، چې د دې طلسم راز په کې ومونډلای شي. جنونې مزدک د زرګونو انسانانو وینې وبهولې او چارپېره کلي تش شول.

اوس لیونې بادونو په تشو کنډوالو کې تاویږي راتاویږي او په هغو انسانانو پسې سندرې وایي، چې د مزدک د بې بریده مینې یا دوښمنۍ په لیونتوب کې د یوبل د تورو او نیزو خوراک شوي دي.

# د «چټکه زدکړه وکړئ!» کتاب چاپ شو!




◆ د ۸صبح پښتو مجله

د نن ورځې تر ټولو ستره اړتیا، زدکړه کول او نوي وړتیاوې ځپلول دي. موږ ټول غواړو زر، آسانه او اغېزناکه زدکړه وکړو خو راته ښوول شوي نه دي چې دا کار څنګه او څه ډول کېږي. دا زده کول چې زدکړه څنګه وشي، یو خورا اړین مهارت دی چې ټول یې باید ولرو. زدکوونکو، زدکړیالانو او هغوی چې د نویو مهارتونو په زده کولو بوخت دي تل په پښتو ژبه کې د یوه داسې کتاب تشه حس کوله چې دوی ته د اغېزناکې، آسانه او چټکې زدکړې لارې چارې ور وښیي. د دغه تشې د ډکولو یوه ښه هڅه شوې او په همدې اړه پښتو ته له انګریزي ژبې د «چټکه زدکړه وکړئ!» په نوم یو خورا ارزښتناک کتاب ژباړل شوی دی.

دا کتاب فزیک پوه او استاد، ډاکټر جو مکلا لیکلی او پښتو ته ثناءالله فیضي را ژباړلی دی. «چټکه زدکړه وکړئ!» کتاب د چټکې او اغېزناکې زدکړې پېنځه جامع او ګټور ګامونه او تخنیکونه وړاندې کوي چې په هر څپرکي کې یو ګام تشریح کېږي. د کتاب په لومړي برخه کې په دې اړه خورا ګټور تخنیکونه بیان شوي چې زدکړه او مطالعه څنګه پیل کړو، څنګه نوي مالومات او پوهه ترلاسه، خوندي او وکاروو. د کتاب دوهمه برخه، په زدکړه کې د بریالیتوب لارو و چارو باندې پوښل شوې. په دغه برخه کې پر نورو مهمو موضوعاتو سربېره، د نوټ نیولو، موخو ترلاسه کولو او چټکې لوستنې په اړه ګټور تخنیکونه بیان شوي. په کتاب کې د راغلو مطالبو اغېزمنتیا او د لیک راونتیا د دې سبب کېږي چې د لوستونکي لېوالتیا لا ډېره کړي، د دې لپاره چې د کتاب ختمېدل، لوستونکی نهیلی نه کړي، په درېیمه برخه کې د ډالیو تر سرلیک لاندې اغېزمن او آسانه موضوعات را ټول شوي دي.

هغوی چې پر زدکړه او د هر ډول مهارت پر زده کولو بوخت دي، د زر، آسانه او اغېزناکې زدکړې کولو لپاره ورته د دغه کتاب لوستل اړین دي. «چټکه زدکړه وکړئ!» کتاب کې د زدکړې تخنیکونو په پلي کولو سره خپل وخت سپمولای او د مؤثریت کچه لوړولای شئ. یاد کتاب د کابل او هېواد په لویو کتابپلورنځیو کې د کتاب مینوالو له پاره د لاسرسي وړ دی.

# له ځوان لیکوال او ژباړن حضرت عثمان نـوري سره ځانګـړې مرکه



◆ مرکه کوونکی: محمد عزیز پردېس

د ۸صبح پښتو مجلې د ادبي ورشو برخې لپاره د پښتو ژبې له نوموتو او مخکښو لیکوالانو، شاعرانو، ژباړونکو، ادیبانو او فرهنګپالو سره د ځانګړو مرکو په لړ کې دا ځل له ځوان لیکوال او ژباړن استاد حضرت عثمان نوري سره ځانګړې مرکه لرو چې ستاسې پام ورته راګرځوو.

**۸صبح:** مننه، چې موږ ته مو د مرکې لپاره وخت راکړ، د لومړۍ پوښتنې په توګه که راته وواياست، لیکوالي او ژباړه مو له کوم وخته پیل کړه او اصلي هڅوونکي مو څوک وو؟

**نوري:** د ۸صبح مجلې لوستونکو ته سلام، هیله ده تـول روغ وئ. شاوخوا اوه کاله کېږي چې د ژباړې او لیکوالۍ برخې ته راغلی یم. اصلي هڅوونکی خپل ځان بولم، اوه کاله مخکې چاپېریال کې چې زه اوسېدم، فکر کوم یوازینی کس زه وم چې خپل ځان ته مې خپله داړ ورکاوه. له دوه کالو تېرېدو وروسته مې د فکر ملګري موندل او د دوی د هڅوونو او لارښوونو په برکت وتوانېدم چې د ژباړې او لیکوالۍ په فن کې دې بریالی او چټک کار وکړم.

**۸صبح:** په ژباړه کې ځان راحت احساسوئ که په لیکوالۍ کې ؟

**نوري:** لیکوال که وغواړي په ډېرې آسانۍ تري ژباړن جوړېدای شي، خو که ژباړن وغواړي، لیکوال شي، ډېره ستونزمنه ده؛ خو ناشونې نه ده. زه په ژباړه او لیکوالۍ دواړو کې د سکون احساس کوم.

**۸صبح:** لومړنۍ لیکنه او ژباړه مو کومه وه او په اړه یې د مخاطبینو غبرګون څه ؤ؟

**نوري:** د کېلو د پوستکو په اړه مې خپله لومړنۍ هڅه د ژباړې په برخه کې وکړه. د دې ژباړې موخه دا وه چې لوستونکو ته د کېلو د هغو پوستکو په اړه مالومات ورکړم چې خال خال تور خاپونه لري، دا ژباړه پر یوې معتبرې او نوموتې وېبپاڼه کې خپره شوه او سلګونه کتونکي یې درلودل. دا چې زما لومړنۍ هڅه وه، ژباړه ډېره خوندوره نه وه، ګڼې منفي تبصرې راغلې وې، هماغه و چې دغو نیوکو زه لا ژباړې ته څېر کړم او اصلاً د ژباړې غوره آدرس یې را په ګوته کړ.

**۸صبح:** د چاپ شویو آثارو په اړه مو معلومات راکړئ!

**نوري:** د ژوند اووه رازونه، د ښه ژوند تګلارې، غواړئ؛ ژوند مو ښکلی شي؟ د بریا ننداري، غوره فکرونه، نه تسلیمېږم، ذهنیت جوړوونکي کیسې، د بریا ۲۰۰ لارې.

دا ۸ بېلابېل کتابونه چاپ شوي دي. لومړني څلور کتابونه چې مې وژباړل، غوره مې وګڼله چې لیکوالۍ برخې ته راشم، «غوره فکرونه» پنځوونه ده، «نه تسلیمېږم» ناول دی، دغه راز «ذهنیت جوړوونکې کیسې» د لنډو کیسو ټولګه ده او اوس چې تازه چاپ شوی، هغه بیا «د بریا ۲۰۰ لارې» د ژباړې برخه ده.

**۸صبح:** که د راتلونکو چاپېدونکو آثارو په اړه معلومات راکړئ، خپلو مینه والو ته کوم زېری لرئ؟

**نوري:** په ټول کې څلور ناچاپ آثار لرم چې د کورونا وبا له امله یې چاپ ځنډېدلی، دغه څلور نا چاپ آثار تر چاپ لاندې دي: «مه ناهیلی کېږه، انګلیش پشتو کامن ټاپیکس، ذهنیت جوړوونکي متلونه او فکر دې ورغوه.» تمه ده چې په نږدې ورځو کې د چاپ په ګاڼه سنبال شي.

**۸صبح:** نوري صېب، هغه مو کومه لیکنه، ژباړه یا مقاله وه، چې له تاوده هرکلي سره مخ شوه او لامل یې څه ګڼئ؟

**نوري:** د اروپوهنې په برخه کې مې یوه ژباړه د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په اپرېل میاشت کې وکړه. دا ژباړه د مینه والو له تاوده هرکلي سره مخ شوه. د ژباړې متن د ټولنیز ژوند اصول بیانول او زرګونه لوستونکي او سلګونه مبصرین یې را ټوالی کړل. دې چارې زه ډېر خوښ کړم، لامل یې دا و چې هغه وخت مې د ژباړو لړۍ ته یو نوملړ جوړ کړ، هغو موضوعاتو ته مې لومړیتوب ورکړ چې نوښت راته ښکارېده. په دې نوملړ کې مې خورا نوي او ګټور موضوعات ځای پر ځای کړل، بیا به د یوې موضوع له ټاکلو وروسته د اصلي او پرمفهومه متن پسې ګرځېدم، د ساعتونو کوښښ وروسته وتوانېدم مینه والو ته د پام وړ او پر مفهومه ژباړه وړاندې کړم.

**۸صبح:** پښتو لیکوالي کومې خواته روانه ده؟ څنګه یې ارزوئ؟

**نوري:** پښتو ادب ته ښوی چوپړ ستایم، له ښه مرغه موږ د پرځان بسیاینې پر لور روان یوو. هیله ده لیکوالان او ژباړونکي له افغاني فرهنګ سره سم د ژبې د بډایینې لپاره خپلې هڅې ونه سپموي.

**۸صبح:** ځوانو او نویو راټوکېدلو او خپلو همزولو لیکوالانو او ژباړونکو ته مو پیغام څه دی؟

**نوري:** هغه لوستي ځوانان چې پخپل مسلک کې د وړتیا، تجربې او مهارت پر اساس پښتو ژبې ته کار وکړي، په ډېرې آسانۍ به پښتو ادب بډایه کړو.

د بېلګې په توګه: که د ژبو او ادبیاتو پوهنځي برحاله او فارغ شوي زده کړیالان د ژباړې، لیکوالۍ او کره کتنې په برخه کې کار وکړي، د انجینرۍ، طب، حقوق، اقتصاد، کمپیوټر

ساینس، زراعت، ښوونې او روزنې او ګڼو نورو پوهنځیو برحاله او فارغ شوي زده کړیالان په خپلو برخو کې تر خپلې وسې هڅې وکړي، ډېر ژر به د پر ځان بسیاینې لور ته کوټلې ګامونه واخلو.

**۸صبح:** ستاسې له انده، پښتو ژبه په کومه برخه کې ډېر کار او زیار ته اړتیا لري؟

**نوري:** ژباړې او پنځوونې دواړو برخو ته اړتیا ده، هغوی چې پنځوونې کولای شي، لا دې کار وکړي او هغوی چې په ژباړو کې چټک دي، نو دا چې ژباړه د ژبې مېلمنه برخه ده، باید هرکلی یې وکړي. عموماً هغه کتابونه چې د پرمختللې نړۍ لیکوالانو لیکلي، ګاونډ او لیرې پرتو هېوادونو یې مورنیو ژبو ته لومړیتوب ورکړی، باید افغان ژباړونکي هم ورته پام وکړي، چې له اېډېټ ژباړو برخمن شو.

**۸صبح:** ډېری ادبپال ځوانان اوس د پښتو لیکوالۍ او په ځانګړې ډول د ژباړې په برخه کې د پښتنو لپاره د یوه منظم سیستم له امله نیوکې کوي، دوی وایي، داسې یوه اداره نشته چې ټول پښتانه لیکوالان او ژباړونکي سره راټول کړي، ستونزې او وړاندیزونه یې واوري او د دې برخې فعالین سره یو موټی کړي، په دې اړه مو نظر او پیغام څه دی؟

**نوري:** کاشکې په هر ولایت کې داسې یو واحد آدرس موجود وای چې په ټول کې ادیبان او لارویان یې په یوه تغر را ټولولی، د ولایت دا واحد آدرس باید د پلازمېنې له ادرسه غښتلی شي او ملاتړ یې وکړي. د هر ولایت د کلتور ریاست باید د خپلې سیمې ادیبان او لارویان په یو تغر را ټول کړي، سیمینارونه او د روزنې معیاري پروګرامونه ورته چمتو کړي او دغه راز د پرمختللې نړۍ د هغو نوموتو کتابونو د پښتو کولو په اړه ځانګړې کرڼلارې ولري چې ژباړه یې افغاني فرهنګ او پښتو ادب ته ګټه رسوي. د هر ولایت دا واحد آدرس باید غښتلی وي او د ولایت اړوند د ټولو ولسوالیو د هرې سیمې لیکوال او ژباړن باید ورسره ثبت کړي، له دوی سره اوونیزې او میاشتنۍ ناستې وکړي او هغه څه چې د پرمختللې نړۍ فرهنګ ریاستونه او په ټول کې یې د فرهنګ وزارت کوي هغه کار وشي.

**۸صبح:** د ۸صبح مطالب اوس د مجلې په بڼه او وېبسایټ کې په پښتو ژبه هم د لاسرسي وړ دي، څنګه یې ارزوئ؟

**نوري:** ویاړم او د خوښۍ احساس کوم چې د ۸صبح مطالب په پښتو هم خپرېږي، که د ادب او ګڼو نورو برخو کې دا ډول هڅې وکړئ، ډېر ژر به پښتو ادب د آسمان ځلانده ستوری وګرځوئ.

**۸صبح:** لویه هیله او ارمان مو څه دی؟

**نوري:** که پر ځای مستقیم ودرېږم، غواړم، تر خپل قد (ونې) په اندازه دې خپل چاپ کتابونه ولرم. دا به وخت ونیسي او که مرګ یې بېره ونه کړه، ان شاءالله چې دا لاسته راوړنه به ولرم. مرګ او ژوند حق دی، داسې وخت به راشي، زه به نه یم، کتابونه او فکر به مې ژوندي وي.

**۸صبح:** ډېره مننه. کور مو ودان

**نوري:** له تاسې هم مننه

## د روسیې دفاع وزیر:

# له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو په وتلو وضعیت خراب شوی دی




◆ د ۸صبح پښتو مجله

د روسیې دفاع وزیر له خپل تاجک سیال سره په کتنه کې ویلي چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل، په دغه هېواد کې د وضعیت د خرابېدو او ترهګرو فعالیتونو د زیاتوالي لامل شوی دی.

د روسیې د دفاع وزیر سرګي شویګو د زمري په شپږمه نېټه له خپل تاجک سیال شېرعلي میرزو سره په کتنه کې له افغانستانه د بهرنیو په تېره بیا امریکایي ځواکونو وتل په بېړه وبلل او زیاته یې کړه چې دا چاره په افغانستان کې د وضعیت د خرابېدو لامل شوې ده. ددغه وضعیت کنټرول ځانګړو اقداماتو ته اړتیا لري.


سپوتنیک رپوټ ورکړی چې د روسیې دفاع وزیر د تاجکستان د دفاع له وزیر سره په کتنه کې ویلي: «نن، د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو د ګواښونو د شنډولو لپاره ګډ کار ته اړتیا ده، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په بېړه وتل د وضعیت د خرابېدو لامل شوي چې مناسبو اقداماتو ته اړتیا ده او په دې برخه کې هڅې روانې دي.»

له بلې خوا، د دواړو هېوادونو د دفاع وزیرانو په دغه کتنه کې د افغانستان او تاجکستان په پولو کې د امنیتي وضعیت او د ګواښونو په وړاندې د ګډو هڅو په اړه خبرې اترې کړې دي.

د سپوتنیک د رپوټ پربنسټ، روسیې په تاجکستان کې یوه پوځي اډه جوړه کړې او په افغانستان کې د وضعیت د خرابېدو په اړه سخته اندېښنه لري.

د خپرو شویو مالوماتو له مخې، ټاکل شوې روسیه، تاجکستان او ازبکستان په راتلونکې میاشت کې د تاجکستان او افغانستان په پولو کې پوځي مانورې ترسره کړي.

د ویلو ده چې روسیې د تاجکستان د پوځي ځواک د پیاوړتیا په موخه دغه هېواد ته پرمختللې وسلې ورکړې دي.


به آمریت محترم عمومی توسعهٔ خدمات مالی !
**موضوع:** توظیف محترمه یلدا به حیث کارمند شما

با تقدیم احترامات فایقه؛
محترمه یلدا بنت عبدالرشید که خود را دارنده مدرک دوکتورای در رشته اقتصاد معرفی نموده، طی درخواستی خواهان شمولیت در دافغانستان بانک گردیده که به اساس حکم مورخ ۱۳۹۹/۴/۲۵ مقام محترم سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک به این آمریت راجع و چنین هدایت نموده اند:
( آمریت منابع بشری! اصولاً اجراآت نمائید).
متعاقباً به اساس پیشنهاد مورخ ۱۳۹۹/۶/۲ این آمریت، مقام محترم عالی چنین حکم نموده است:
(توظیف موصوف به حیث تحلیلگر حمایت از مشتریان آمریت عمومی توسعهٔ خدمات مالی در گرید هشتم منظور است. آمریت منابع بشری مکلف است تا توظیف موصوف را مطابق به احکام قانون، غرض منظوری به اولین جلسه هیئت عامل محول دارد).
بناً موضوع به شما ارقام شد تا ایشان را به صفت تحلیلگر حمایت از مشتریان گرید (۸) ستیپ اول خویش شناخته، از نزدش استحصال وظیفه نمائید. معاش و سایر حقوق شان از تاریخ اشغال وظیفه قابل اجرا بوده، شعبات ذیربط به سهم خویش اصولاً اجراآت نمایند.

با احترام
اجمل احمدی

به آمریت محترم عمومی پروژه های استحکام سکتورمالی !
**موضوع:** تعیین و توظیف محترم عبدالله میرزائی فرزند علی جمعه

با تقدیم احترامات فایقه؛
محترم عبدالله میرزائی فرزند علی جمعه که خویش را دارندهٔ مدرک لیسانس در رشته کمپیوتر اپلیکیشن و دارای سابقه کاری در ادارات دولتی وغیر دولتی معرفی نموده، طی درخواستی خواهان شمولیت در دافغانستان بانک گردیده که در زمینه ، حکم شماره ۳۹۸ مورخ ۱۳۹۹/۴/۳۱ محترم سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک به این آمریت راجع و چنین هدایت ارشاد نموده اند:
( آمریت منابع بشری! اصولاً اجراآت نمائید)
متعاقباً به اساس پیشنهاد این آمریت ، مقام محترم طی حکم شماره ۹۰۰۸ مورخ ۱۳۹۹/۷/۱ چنین هدایت ارشاد فرموده اند:
( آمریت منابع بشری ! توظیف محترم عبدالله میرزائی مطابق متن پیشنهاد الی تکمیل نصاب هیئت عامل غرض جلو گیری از سکتگی امور منظور است . تقرری موصوف را غرض منظوری به اولین جلسهٔ هیئت عامل محول دارید )
لهذا موصوف در گرید (۷) ستپ اول به حیث آفیسر ارشد درج معلومات شما تعیین و توظیف گردید . معاش و سایر حقوق شان از تاریخ اشغال وظیفه قابل اجرا بوده، شعبات ذیربط به سهم خویش اصولاً اجراآت نمایند.

با احترام
اجمل احمدی
سرپرست ریاست کل دافغانستان بانک

## د ۹م مخ پاتې برخه

**مخکیني اجرايي رييس او د بانگونو تولنې پخواني رييس زياته کړه چې د افغانستان د نمايندگيو د زېرمو په اړه دوې موضوع گانې د پام وړ دي. د هغه په وينا، د افغانستان بانک په عملياتي کړنلاره کې راغلي، په کومه نمايندگۍ کې څومره پيسې وساتل شي او پاتې نورې کابل ته راولېږدول شي. خو هغه دا برخه د عادي حالت لپاره وبلله.**

خو قريشي وايي چې په بېړنيو حالاتو کې د بانک په مقرره کې راغلي چې آن يوه افغانۍ د بيت المال پيسې په نمايندگۍ کې وي، بايد په بېړه مرکز ته ولېږدول شي او په دې شرايطو کې پخوانۍ کړنلاره د اجرا وړ نه ده.

د قريشي په وينا، په داسې شرايطو کې چې ډېرې ولايتونه ناامنه دي او د پيسو د حيف وميل امکان شته د عملياتي خطرونو له پلوه وړانديزي تگلارې Operational Risk جوتوي چې نغدې پيسې په کمه اندازه وساتل شي؛ ځکه که کومه پېښه وشي، لېترلږه نغدې پيسې خوندي وي.

هغه دا کار د بانک پوهه او ښه مشرتابه وباله او وې ويل چې د بانک مسوولين بايد ځواب ويوونکي وي چې ولې يې په دغه راز شرايطو کې د پيسو کچه زياته کړې ده.

### د محافظه کارۍ پايلې؛ د بانگ د ټکټاني عوايد ۴۵ سلنه کم شوي دي

په د افغانستان بانک کې د عوايدو يوه سرچينه د ټکټاني گټه ده، ټکټانه هغو عوايدو ته ويل کېږي چې د پورونو ورکولو له لارې پيسې ترلاسه کېږي؛ خو د لگښتونو له پلوه، ټکټانه هغو مصارفو ته ويل کېږي چې د پور د کارولو په وړاندې ورکول کېږي. د ۱۳۹۸ مالي کال د حسابونو د راپور پربنسټ، د افغانستان بانگ د ټکټاني عوايد ۹،۵ ميليارد افغانيو ته رسېږي. په دې توگه دا عوايد په ۱۳۹۹ مالي کال کې په ۴۵ سلنې کمښت سره، ۵،۳ ميلياره افغانيو ته رسېدلي دي. دا په داسې حال کې دي چې د پانگونې کچه د تېر کال په پرتله کابو ۴۰ سلنه زياته شوې ده.

د بانگي چارو کارپوهان د ټکټاني د ۴،۲ ميلياره عوايدو د کمښت لامل د مخکينو مسوولينو د ريسک منل او ښه مديريت بولي. د دوی په وينا، په هغه وخت کې د افغانستان بانگ د پانگونې په پروگرام کې خطر او مالي حساب ته پام کاوه. په دې توگه ځينې زېرمې په هغو برخو کې پانگونه کېده چې گټه يې زياته وه او له دې امله د ټکټاني عوايد زياتېدل.

کارپوهان وايي، د افغانستان بانگ په اوسني وخت کې د خپلې پانگونې ډېره برخه هغو برخو ته لېږدولې چې لږ گټه لري او په پايله کې يې د بانگ د ټکټاني گټه او عوايد کمېږي. دوی جوتوي چې د افغانستان بانگ ډېری پانگونه د امريکا د خزانې وزارت د پورونو په پاڼو کې شوې چې په نړيوالو بازارونو کې نورو فرصتونو ته په پام سره، ډېره کمه ټکټانه ورکوي. دوی دا کار ناسم بولي او وايي چې دغه چاره د افغانستان بانگ د ټکټاني عوايدو د کمښت لامل شوې ده. دا په داسې حال کې دي چې د پانگونې کچه په ۱۳۹۸ کال کې له ۲۱۸،۲۶ ميلياره افغانيو په ۱۳۹۹ مالي کال کې ۳٦۸،۸ ميلياره افغانيو ته زياته شوې ده.

په ځينو موردونو کې د افغانستان بانک د پانگونې پر پاڼو د ټکټاني کچه لوړه کړې ده. د پانگونې پاڼې د پيسو د سياست اوزار دی چې د افغانستان بانگ د پيسو د ارزښت د کنټرول په موخه ترې گټه اخلي. د پيسو د ارزښت د کمېدو پرمهال د افغانستان بانگ د يوې ښې لپاره د پيسو اخيستو له آسانتيا په استفادې سره مالي انډول ساتي. د يادولو وړ ده چې د دغه مالي سياست کارول هغه وخت اغېزناک دی چې بانگونه د پور ورکولو پياوړې ظرفيت ولري. په تېرو څو کلونو کې د هېواد بانگي نظام په منځني ډول ۸۵ سلنه نغد او يوازې سلنه امکانات يې په پور ورکول، د افغانستان بانگ د يوې شپې لپاره د پيسو پر ورکړې او د پانگونو پر پاڼو ټکټانه ډېره کمه ټاکلې او آن ځينې وختونه د يوې شپې لپاره د پور اخيستو آسانتيا دروي؛ ځکه چې د بانگونو دا پيسې له کارولو پرته پاتې وې او په اضافي زېرمو کې ساتل کېدې او په دې توگه يې د تورم هېڅ ډول اغېز نه درلود.

سربېره پر دې د افغانستان بانگ له خوا د پانگونې پر پاڼو د لوړې ټکټاني د ورکړې په صورت کې، تجارتي بانگونه خصوصي ځانگې ته د پور ورکړې ته لېوالتيا نه لري او پرته له دې چې له دې لارې د هېواد په وده کې خپل رول ولوبوي، په ډاډه زړه او له کوم خطر پرته، د افغانستان بانگ د پانگونې په پاڼو کې پانگونه کوي. دا په داسې حال کې دي چې د افغانستان بانگ د اجمل احمدي په دوره کې د يوې شپې لپاره پور د ټکټاني ارزښت په کال کې له ۰،۱ سلنې د ۱۳۹۹ کال په مرغومي مياشت کې ۰،۵ سلنې ته زيات شوی دی. وروسته بيا د ۱۴۰۰ کال د وري مياشتې په وروستيو کې هغه په کال کې درې سلنې ته او د روان کال د چنگاښ په ديارلسمه نېټه سپړ سلنې ته لوړ کړ. که څه هم په لومړيو کې د اجمل احمدي ټينگار دا و چې د يوې شپې پر پور د ټکټاني کچه لس سلنې ته لوړه کړي، خو د بانگونو د مالي سياست او څارنې د آمريتونو له سخت مخالفت سره مخامخ شو چې دا موضوع ددغه آمريت د سرپرست د استعفا لامل شوه. له دې سره په يو وخت پر يو کلنو ارزښت لرونکو پاڼو د ټکټاني کچه لوړه شوه او اوس په کال کې ٦،۵ سلنې ته رسېدلې ده.

**د مالي او بانگي چارو د کارپوهانو په باور، د هېواد د تجارتي بانگونو د بې مخينې پورونو کچه چې د ۱۳۹۹ مالي کال په وروستيو کې کابو**

**۲۲ سلنې ته رسېږي، د افغانستان بانګ هڅه کوي له بیت الماله د ټکټانې په ورکولو د بانګي چارو زیان جبران کړي، د افغانستان بانګ له دې مخکې په رسمي توګه اعلان وکړ چې په راتلونکو کلونو کې تجارتي بانګونو ته ستونزمن پورونه بندوي.**

کارپوهان دا ډول تصمیم نامناسب بولي؛ ځکه د دوی په اند د پیسو پر ارزښت هېڅ اغېز نه لري. دوی وايي چې دا کار خصوصي برخې ته د پانګوونو د پور ورکولو انګېزه له منځه وړي.

د افغانستان بانګ د هېواد د مالي سیستم په ودې او پیاوړتیا کې اساسي رول لري. د مالي چارو کاربوهان په تېرو لسو کلونو کې د بانګ یو مهم کار په پرچون ډول د بربښنايي ورکړې سیستمونو وده بولي. له همدې امله، د افغانستان بانګ اف پي په نوم د ملي ورکړې کارت طرحه برابره کړه چې له دې لارې بانګونه او نور مالي بنسټونه د مالي معاملو لکه په بربښنايي توګه د پولیسو د لېږد رالېږد په موخه خپلو مشتریانو ته جواز صادر شي.

په دې ډول د افغانستان بانګ له بانګي او غیربانګي موسسو په ملاتړ کې له کوم توپیر پرته دنده لري چې ټولو مالي موسسو او بانګونو ته د ملي کارت خدماتو د ودې زمینه برابره کړي. د شمېرو له مخې، د افغانستان بانګ د اړوندو برخو مسوولین د بانګ کارکوونکو ته د کارت د صادرولو په رسمي فورمونو کې د ځانګړو بربښنايي خدماتو د یوه شرکت له نومه چې د افغانستان هولډنګ ګروپ نومول کېږي کار اخیستی دی. خصوصي شرکتونه دا کار د افغانستان بانګ د قوانینو او اصولو پرخلاف بولي. په داسې حال کې چې د افغانستان په مالي برخه کې کابو لس کورني او دوه بهرني بانګونه او څلور د پورونو د ورکړې او څلور د بربښنايي پیسو موسسې رسمي فعالیت لري چې له د افغانستان بانګ څخه یې جواز اخیستی دی.

**پر بانګنوټونو د لاسلیک لپاره د بانګ د سرپرست له هڅو سره په یو وخت نړیوال خبرداري**

د پلان له مخې، ټاکل شوې ډېر زر د سل میلیارده افغانیو په ارزښت بانګنوټونه چاپ شي. دا نوټونه د ۵۰۰ او زرو افغانیو دي او تدارکاتي کارونه یې بشپړ شوي دي. اوس په ارګ کې سرچینې وايي چې اجمل احمدي هڅه کوي پر دغو بانګنوټونو لاسلیک وکړي. سرچینې زیاتوي چې له دې مخکې د حکومت ځینو چاراواکو له دې کار سره مخالفت کړی خو احمدي هڅه کوي ولسمشر قانع کړي.

دا په داسې حال کې دي چې د افغانستان بانګ د قانون د ۳۶مادې د دوهمې فقرې له مخې، پر بانګنوټونو یوازې د مالیې د وزیر او د افغانستان د عمومي رییس لاسلیک موجود وي. په دې ماده کې راغلي: «د بانګنوټونو او سکو ارزښت، کچه، بڼه، جنس، محتوا، وزن، ډیزاین او نورې ځانګړتیاوې د افغانستان بانګ له خوا په اړونده مقرره کې جوتېږي، پر بانګنوټونو د مالیې د وزیر او د افغانستان بانګ د عمومي رییس لاسلیک موجود وي.» په دې توګه، یوازې د افغانستان بانګ عمومي رییس نه سرپرست پر نوټونو لاسلیک کولای شي. د ویلو ده چې د ولسي جرګې د غړو او کارپوهانو په باور دا کار د قانون خلاف دی او په راتلونکي کې د افغانیو پر مشروعیت منفي اغېز کوي.

له دغو هڅو سره په یو وخت، دا وضعیت ددې ښودنه کوي چې افغانستان به ددغه راز شرایطو په دوام سره د نړیوال مالي اقدام ډلې په خړ لېست کې شامل شي. د افغانستان بانګ او د بهرنیو چارو وزارت ته د اروپایي ټولنې په لیک کې ویل شوي چې افغانستان د پیسو د سپینولو او د ترهګرۍ د تمویل سرچینو په وړاندې مبارزه کې له نړیوالو معیارونو او غوښتنو وروسته پاتې دی. باید ووایو چې پر دغه مهم لیک د اجمل احمدي شخصي د بربښنا لیک پته لیکل شوې. په داسې حال کې چې د بانګ ټولو مخکینو رییسانو رسمي ایمیل آدرسونه لرل چې راتلونکو رییسانو د بانګ له خوندیځ څخه تېر مالومات ترلاسه کول.

د مالي او بانګي چارو کارپوهان هم وايي چې دا خطر په بانګ کې د مسلکي کارکوونکو د ګوښه کولو له امله دی. سیر قریشي وویل چې ټاکل شوې افغانستان په ۲۰۲۲ کال کې په دې اړه له ارزونې سره مخامخ شي. ښايي Financial Action Task Force او Asian Pacific Group بنسټونه دا ارزونه ترسره کړي چې ښايي افغانستان یو ځل بیا د پیسو د نړیوال صندوق خړ نوملړ ته ستون شي؛ ځکه د افغانستان بانګ اوسمهال ډېرې ستونزې لري په دغه بنسټ کې مسلکي کارکوونکي په تېره بیا د دې بانګ په مالي استخباراتو کې وړ کسان نشته، ځکه دغو کارکوونکو په تېرو کلونو کې خپلواک عمل کاوه، خو د دې ځانګړي رییس او یو شمېر کارکوونکې د احمدي لخوا د قانون پرخلاف ګوښه شول.

د افغانستان بانګ نور هم داسې کارونه کړي دي، دغه بانګ د چنګاښ په دوولسمه نېټه اعلان وکړ چې یو کارکوونکی د جینوا ناستې د ژمنو د عملي کولو په سند کې د پښتو ژبې د نه کارولو له امله ګوښه شوی دی. د بانګ مسوولینو هغه مهال روښانه نه کړه چې څوک له دندې ګوښه شوي. هغه وخت د بانګ د حقوقي چارو آمریت د سرپرستې وجیهې تیموري په نوم کارکوونکې په دغه مکتوب کې لاسلیک کړی و. تیموري اجمل احمدي ته له نږدې کسانو ده چې تېر کال له آزادې سیالۍ پرته ګمارل شوې او د هغه له ډلې څخه ده.

د افغانستان بانګ سرچینې وايي چې له دې امله هېڅوک نه دي ګوښه شوي، وجیهه تیموري هم خپلې دندې ته دوام ورکوي. د بانګ مسوولینو په ټولنیزو رسنیو کې د یوه تصویري کسټ په خپرولو خلکو ته ناسم مالومات ورکړل.

سربېره پر دې اجمل احمدي د روان کال د غبرګولي په لسمه په باختر آژانس کې یوه لیکنه خپره کړه او وې ویل چې د کار په بهیر کې یې اویا مقررې جوړې کړې دي. اوس په بانګ کې ځینې سرچینې وايي چې د احمدي له خوا هېڅ مقرره نه ده جوړه شوې، بلکې پخوانۍ مقررې یې توحید او د مقرراتو کتاب نوم یې ورکړی دی.

**د افغانستان بانګ مالوماتو ته د لاسرسي له پلوه تر ټولو تړلی بنسټ دی**

مالوماتو د لاسرسي حق د کمېسیون د مالوماتو له مخې، د اجمل احمدي په سرپرستۍ د افغانستان بانګ، مالوماتو ته د لاسرسي له پلوه ترټولو تړلی بنسټ دی. مالوماتو ته د لاسرسي کمېسیون رییس عین الدین بهادري وايي چې د دغه بانګ مخکینیو مسوولینو له دغه کمېسیون او رسنیو سره اړیکې لرلې او مالومات یې ورسره شریکول خو اوس دا بهیر درول شوی دی.

ددغه کمېسیون رییس جوتوي چې دا اندېښنې به له اړوندو بنسټونو له هغې جملې د قانون واکمنۍ عالي شورا، ولسمشرۍ دفتر او ځینو نورو ادارو سره مطرح کړي. د ویلو ده چې ۸صبح ورځپاڼې د خپل راپور د بشپړولو لپاره له دغه بانګ څخه د مالوماتو غوښتنه وکړه خو د یوې میاشتې په تېرېدو سره حاضر نه شول چې مالومات ورکړي. ددغه بنسټ مسوولینو آن د مطرح شویو ادعاوو او سندونو په وړاندې خپل درېځ اعلان نه کړ.

که څه هم په صنعت او سوداګرۍ وزارت او د افغانستان بانګ کې د اجمل احمدي د قانون ماتوونې موضوع خپره شوې وه، خو ارګ په دې اړه جدي غبرګون نه دی ښودلی.

# یوازې په تېرو ۱۵ ورځو کې څه د پاسه ۱۴ زره کورنۍ بې ځایه شوې دي



◆ راپور: عبدالاحمد حسیني
◆ ژباړه: م. ظ. صمیم

په هېواد کې د جګړې پراختیا د خلکو ژوند له ستونزو سره مخامخ کړی دی. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت شمېرې ښيي چې یوازې په تېرو ۱۵ ورځو کې څه د پاسه څوارلس زره کورنیو د جګړې له امله خپلې سیمې پرې ایښې او امنو سیمو ته کډه شوې دي. ددغه وزارت د مالوماتو له مخې، ډېری کورنۍ په کندز، بغلان، تخار، جوزجان، هلمند، لغمان، پکتیا او غزني ولایتونو کې د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوې دي. د کډوالو چارو وزارت جوتوي چې دغه وزارت له بې ځایه شویو کورنیو سره د خوراکي او نورو اړتیا وړ توکو مرستې کړې دي. د طالبانو د بریدونو له زیاتوالي او د وضعیت په خرابېدو سره د امریکا دولت هم له بې ځایه شویو سره سل میلیون ډالري مرسته په پام کې نیولې ده.

که څه هم په وروستیو کلونو کې ډېری کورنیو د جګړو له امله خپلې سیمې پرې ایښې دي، خو دا ستونزه له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته پراخه شوې ده. طالبانو ډلې د روان کال په مې میاشت کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر په پیلېدو سره، خپل بریدونه زیات کړي او ځینې ولسوالۍ یې نیولې دي. د هېواد په بېلابېلو برخو کې د طالبانو د بریدونو او د جګړې په پراختیا سره خلک د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوي دي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت وایي چې د وري میاشتې له لومړیو راهیسې څه د پاسه ۷۲ زره کورنۍ امنو سیمو ته کډه شوې دي. **ددغه وزارت مرستیال ویاند رضا باهر ۸صبح ته وویل چې په تېرو دوو میاشتو کې د بې ځایه شویو شمېر زیات شوی دی. هغه څرګنده کړې چې یوازې په تېره یوه میاشت کې ۱۹ زره کورنۍ بې ځایه شوې چې څوارلس زره یې په تېرو ۱۵ ورځو کې د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوې دي.**

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مرستیال ویاند وایي چې ډېری دغه بې ځایه شوي له کندز، جوزجان، ننګرهار، لغمان، پکتیکا، فراه، هلمند او غزني ولایتونو دي. په دغو سیمو کې جګړه پراخه شوې او ډېری ولسوالۍ د طالبانو واک ته ورغلې دي. باهر زیاتوي چې پر دغو سیمو د طالبانو په واکمنۍ سره

خلک بې ځایه شوي او نورو سیمو ته یې پناه وړې ده. د هغه په وینا یوازې په یوه میاشت کې دري زره او ۵۱۱ کورنۍ په کندز، دوه زره او ۳۵۳ کورنۍ په ارزګان، دوه زره او۸۲ کورنۍ په جوزجان، یو زر او ۸۲۲ کورنۍ په ننګرهار، یو زر او ۶۷۰ کورنۍ په لغمان، یو زر او ۴۰۰ کورنۍ په پکتیکا، یو زر او ۹۴ کورنۍ په فراه، ۹۴۵ کورنۍ په هلمند او ۷۶۵ کورنۍ په غزني کې بې ځایه شوي دي.

د غزني اوسېدونکي د بې ځایه شویو شمېر لوړ بولي. د مالوماتو له مخې، یوازې په تېرو دوو اونیو کې دري زره کورنۍ له مالستان ولسوالۍ بې ځایه شوي او غزني او کابل ته راکډه شوي دي. د مالستان اوسېدونکو دوه ورځې مخکې په کابل کې د خبري ناستې پرمهال وویل چې طالبان نوموړې ولسوالۍ ته په ورتلو خلک ځوروي او یو شمېر یې وژلي دي. ددغې ولسوالۍ اوسېدونکي زیاتوي، له دې امله خلک د خپلو سیمو پرېښودلو ته اړ شوي دي. د مالستان اوسېدونکي د جګړې له ښکېلو لورېو غواړي زر تر زره د بې ځایه شویو کورنیو د ورستنېدو او کرنیزو محصولاتو د راټولولو زمینه ورته برابره کړي چې د خلکو ژوند عادي حالت ته ستون شي. دوی همداراز له خیریه بنسټونو غوښتي چې د دغې ولسوالۍ د اوسېدونکو وضعیت ته پاملرنه وکړي.

له بلې خوا، رضا باهر وایي چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په روان کال کې څه د پاسه زرو کورنیو ته مرستې رسولې دي. د هغه په وینا په دغو مرستو کې خوراکي او نور د اړتیا وړ توکي شامل دي. **نوموړی وایي، په هر ځای کې چې د جګړې له امله د خوراکي توکو د لېږدولو امکان نه و، نغدي پیسې خلکو ته ورکړل شوې دي. د جګړې له امله له بې ځایه شویو سره د پیسو مرستې توپیر درلود، دا مرستې له اوه تر ۲۲ زره افغانیو وې چې د کورنیو اړتیاوو ته په پام سره پر خلکو وېشل شوې دي.**

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مرستیال ویاند همداراز جوتوي چې په روان کال کې بې ځایه شوي هغو سیمو ته کډه شوي چې د امنیت احساس یې کاوه. د دغه وزارت د مالوماتو له مخې، د جګړې له امله ډېری بې ځایه شوي د کابل، هرات او بلخ په شان لویو ښارونو کې چې د کار زمینه تر یوه بریده ورته برابره ده ډېره شوي دي.

**د جګړې په زیاتوالي سره د امریکا دولت هم له بې ځایه شویو او د جګړې له زیانمنو سره د سل میلیون ډالرو مرستې اعلان کړی دی. دغه هېواد د امریکا د بېړنیو حالاتو او کډوالۍ چارو د مرستې له صندوقه سل میلیون ډالر د کډوالو، د جګړې د قربانیانو او نورو زیانمنو وګړو د اړتیاوو د برابرولو لپاره مرسته کوي.** په داسې حال کې چې طالبانو خپلو بریدونو ته زور ورکړی او له سلو زیاتې ولسوالۍ یې نیولې دي ښایي لازیاتې سیمې ونیسي. له دې امله که جګړه او د طالبانو بریدونه دوام وکړي ښایي لازیاتې کورنۍ بې ځایه شي. د هغو مالوماتو پربنسټ چې د امریکا د دفاع وزارت له خوا خپاره شوي، طالبان په اوسني وخت کې د افغانستان له ۴۱۹ ولسوالیو ۲۱۳ په واک کې لري.

# حکومت د هېواد د بندرونو او بازارونو د مدیریت لپاره ګډ میکانیزم جوړ کړی دی



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د مالیې او اقتصاد وزارتونو په همکارۍ د سوداګرۍ، بازار او بندرونو د مدیریت لپاره تګلاره برابره کړې ده.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د زمري په پینځمه نېټه د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې دغه وزارت د سوداګرۍ او بازار د مدیریت او همداراز د هېواد د بندرونو د ستونزو د اوارې په موخه د مالیې او اقتصاد وزارتونو په همکارۍ ګډه تګلاره جوړه کړې ده.

ددغه وزارت د اعلان له مخې، دا تګلاره د دولتي او خصوصي بنسټونو د استازو په ګډون له ولسمشر محمد اشرف غني سره شریکه شوه.

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نثار احمد غوریاني، ددغې تګلارې د وروستي کولو په ناسته کې جوته کړې چې ددغې طرحې موخه، د خصوصي ځانګې په همکارۍ په ټول هېواد کې د هېوادوالو د اړتیا وړ لومړنیو توکو برابرول دي. هغه زیاته کړې چې په دې طرحه کې د هېوادوالو د اړتیا وړ لومړنیو توکو د برابرولو د څرنګوالي لپاره ټولې ننګونې او حل لارې اټکل شوې دي.

له بلې خوا، د مالیې وزارت د عوایدو او ګمرکاتو مرستیال جوته کړې چې دا وزارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت او خصوصي ځانګې په همکارۍ د صادراتو او وارداتو د آسانه کولو طرحه برابره کړې ده.

## پر اوو تجارتي بندرونو د طالبانو واکمني؛

# د بېـرته نيـولـو لپـاره يـې هڅې روانــې دي




◆ **راپور: حسين حيدري**
◆ **ژباړه: م. ظ. صميم**

کابو درې اونۍ کېږي چې طالبان په هرات، فراه، تخار، کندز، کندهار او پکتيا ولايتونو کې پر اوو سوداګريزو بندرونو واکمن شوي دي. د لومړي ځل لپاره د هېواد په شمال کې شېرخان بندر د طالبانو لاس ته ورغلی، دا بندر چې د کندز په امام صاحب ولسوالۍ کې موقعيت لري د هېواد له مهمو بندرونو څخه دی.

ماليې وزارت ويلي چې په اوسني وخت کې د اسلام کلا، تورغونډۍ، ابونصر فراهي، سپين بولدک، آی خانم، ډنډ پټان او شېرخان په بندرونو کې هېڅ ګمرکي فعاليت نشته. ددغه وزارت وياند محمد رفيع تابع له ۸صبح سره په خبرو کې وويل چې دې چارې د دولت پر عوايدو او تجارت منفي اغېزه کړې ده. د هغه په وينا، **ماليې وزارت د روان کال په غبرګولي مياشت کې له تجارتي بندرونو اوه ميليارده او ۳۰۰ ميليونه افغانۍ عوايد ترلاسه کړي، خو دا کچه په چنګاښ مياشت کې څلور ميلياړده او ۶۰۰ ميليونه افغانيو ته راکمه شوې ده. ددغو شمېرو له مخې، ماليې وزارت له دغو اوو بندرونو دوه ميلياړده او ۷۰۰ افغانۍ عوايد له لاسه ورکړي دي.**

د ماليې وزارت شمېرې ښيي چې د روان مالي کال په لومړيو شپږو مياشتو کې، ۴۱ ميلياړده افغانۍ عوايد راټول شوي دي. د ماليې وزارت وياند وايي چې د چنګاښ تر لومړۍ نېټې کابو ۳،۵ ميلياړده افغانۍ له اسلام کلا او ۲،۴۸ ميلياړده افغانۍ له ابونصر فراهي بندره راټول شوي دي. د هغه په وينا، ماليې وزارت په پام کې لري چې په روان مالي کال کې له کابو دېرشو ګمرکونو او تجارتي بندرونو کابو ۲۱۶،۵ ميلياړده افغانۍ ترلاسه کړي. له بلې خوا، د امنيتي بنسټونو وياند اجمل عمر شينواري وايي، په هغو سيمو کې چې امنيتي ګواښونه زيات دي، افغان ځواکونه په دفاعي حالت کې دي. ښاغلي شينواري زياته کړه چې په ستراتيژيکو بندرونو، سيمو او ښارونو کې ګواښونه لوړ دي، وضعيت به ډېر زر عادي حالت ته ستون شي. د صنعت او سوداګرۍ، ماليې، اقتصاد، کرنې او مالدارۍ وزارتونو، د خصوصي څانګې د استازو او ارګ د ګډې طرحې له مخې ټاکل شوې وه ډېر زر ددغو بندرونو د بېرته نيولو لپاره ځانګړې عمليات پيل شي، خو تراوسه دا طرحه نه ده اجرا شوې. دغه طرحه کابو دوې اونۍ مخکې وروستۍ شوې وه.

له بلې خوا، د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې ددغې طرحې له مخې خصوصي څانګه په بازارونو کې لومړني توکي برابروي او د اندېښنې وړ خبره نه ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت وياند احمد فواد احمدي ۸صبح ته وويل چې خصوصي څانګه په اوسني وخت کې د خلکو د اړتيا وړ لومړني توکي برابروي. نوموړي په بازارونو کې د نرخونو د لوړېدو په اړه وويل: «**په ټوله نړۍ کې د تېلو بيه لوړه شوې او دې چارې په افغانستان کې هم پر نرخونو اغېز کړی دی، د ډالرو د ارزښت لوړېدل او د افغانيو ټيټېدل ددې لامل شوي چې د توکو بيې لوړې شي، په بندرونو کې امنيتي ستونزې هم د بيو د لوړېدو لامل شوې دي.» نوموړي جوته کړه چې د اړتيا وړ لومړني توکي د هوايي دهلېز او نورو بندرونو له لارې هم هېواد ته واردېږي.** د اقتصادي چارو کارپوهان په دې باور دي چې د هوايي دهليزونو له لارې د لومړنيو توکو واردېدل زيات لګښت لري او د دولت او خلکو په ګټه نه دي.

**د طالبانو تر واک لاندې سيمو کې د تجارتي بندرونو فعاليت څه ډول دی؟**

د هرات او کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولين وايي چې د اسلام کلا، تورغونډۍ او سپين بولدک بندرونه چې د طالبانو په واک کې دي فعاليت يې عادي دی. د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستيال سعيد عظيميان وايي چې په اوسني وخت کې په دغو بندرونو کې کومه خاصه ستونزه نشته، خو هر موټر چې له دغو بندرونو تېرېږي، طالبان د توکو نوعيت ته په پام سره له ۱۵ تر شل زره افغانۍ ماليه اخلي. ښاغلي عظيميان زياتوي چې له دې مخکې طالبانو د کابل ـ هرات پر لاره د فراه رود او دلارام په سيمو کې ګمرکونه لرل او له سوداګرو يې پيسې اخيستې، خو اوس په بندرونو کې له موټرو چلوونکو دا پيسې اخلي. د اسلام کلا او تورغونډۍ بندرونه دوې اونۍ مخکې د طالبانو لاس ته ورغلل. دا بندرونه چې د ايران او ترکمنستان په پوله کې دي د افغانستان او دغو دوو هېوادونو ترمنځ سوداګرۍ کې خورا ارزښت لري.

**د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستيال همداراز وويل چې په هرات کې د اوړو د کمښت ستونزه اواره شوې ده. له دې مخکې د هرات د ډوډۍ پخوونکو ټولنې د اوړو د کمښت او ځينو نانوايي ګانو د تړل کېدو په اړه خبرداری ورکړی و.** سعيد عظيميان وايي چې ترکمنستان د څه مودې لپاره هغو واګونونو ته چې اوړه، غنم او خوراکي توکي په کې بار وو، افغانستان ته يې د راتلو اجازه نه وه ورکړې. د هغه په وينا، څو ورځې مخکې دا ستونزه اواره شوه او ترکمنستان، افغانستان ته د خوراکي توکو د واګونونو د راتلو اجازه ورکړه. د هرات د سوداګرۍ خونې مرستيال جوته کړه چې څه د پاسه دوه زره ټنه غنم او اوړه هرات ته رسېدلي دي. له بلې خوا، د کندهار د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستيال عبدالباقي بنا، وايي، که څه هم سپين بولدک د طالبانو په واک کې دی خو سره له دې د دې سيمې ګمرک فعال دی او کومه خاصه ستونزه نشته. ښاغلی بنا زياتوي: «عمومي وضعيت خراب دی چې دې چارې پر سوداګرۍ منفي اغېز کړی دی.» د سپين بولدک ګمرک شوارلس ورځې مخکې د طالبانو لاس ته ورغی.

له سپين بولدک مخکې، ابونصر فراهي بندر هم د طالبانو لاس ته ورغلی و. د فراه د ولسي شورا رييس محمد رحيم تلاش وايي چې په اوسني وخت کې لږ شمېر سوداګر ددې بندر له لارې توکي واردوي. ښاغلي تلاش زياتوي چې له دې مخکې لس تر ۱۵ ورځې د فراه په بندر کې موټر درول کېدل، خو اوس يو ساعت هم نه درول کېږي. هغه وايي چې طالبان توکو ته په پام سره له هر موټره له شلو تر ۵۰ زره افغانۍ محصول اخلي.

## د ملي امنیت شورا رول او ځای؛

# لیدلوري او واقعیتونه



◆ عبدالمقیم عبدالرحیمزی

**یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»**

ملي امنیت شورا د جمهور رییس او وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په ریاست د ملي گټو، ملي ارزښتونو، ځمکنۍ بشپړتیا او د هېواد د ملي واکمنۍ په برخو کې د تصمیم نیولو مرجع ده. په ډېرو هېوادونو له دې جملې افغانستان کې هم ملي امنیت شورا په بهرنۍ سیاست، دفاعي او امنیتي چارو او نورو مواردو کې خورا مهم تصمیمونه نیسي. د دې شورا تشکیل د هېواد له لوړپوړو سیاسي، پوځي او امنیتي چارواکو جوړ وي.

په ډېرى هېوادونو کې د ملي امنیت شورا د اداري او دارالانشايي چارو د پر مخ بیولو لپاره بېلابېل عنوانونه لکه دارالانشاء، سکرتریت او ملي امنیت شورا دفتر کارېږي چې د ملي امنیت سلاکار یې مشري کوي.

زموږ په هېواد کې د ملي امنیت سلاکار د امنیت شورا دفتر مشري کوي چې د ملي امنیت شورا دفتر اړینه وظیفه او مسوولیت د امنیتي بنسټونو ترمنځ همغږي، څارنه، د اجراآتو ارزونه او د دارالانشا د چارو پر مخ بیول دي.

په دې وروستیو کې د ملي امنیت شورا دفتر، اجراآتو، کارونو، صلاحیتونو او د هېواد له نورو امنیتي او دفاعي بنسټونو سره یې د تعامل په اړه د ځینو کړیو له خوا ضد و نقیض بحثونه کېږي. دغه بحثونه په ټول کې د دغه مهم دفتر د تخریب په خاطر کېږي او یا یې ځینې عاملان د ناخبرۍ له امله کوي. د ملي امنیت شورا دفتر د ولسمشر د هدایاتو د څارنې او ارزونې مسوولیت لري چې د هېواد په نافذه قوانینو په تېره بیا اساسي قانون کې خو یې د ایجاد او فعالیت په مخ کې خنډ نه شته، بلکې په څو نافذه قوانینو کې دغه دفتر ته مشخص مسوولیتونه هم سپارل شوي دي. مثلاً له پیسو پرېمنځلو او جرمي عوایدو سره د مبارزې او څو نور قوانین. د ملي امنیت سلاکار ځای هم د هېواد په نافذه قوانینو کې د دولت د یوه مقام په توگه ثابت دی او په څو قوانینو کې یې مشخصاً یادونه شوې ده.

د بیان آزادي او د بیان حق د هېواد د اوسېدونکو بنسټیز حق گڼل کېږي او هر څوک حق لري خپل نظرونه او لیدلوري بیان کړي، که دغه لیدلوري او نظرونه رغنده او پر واقعیتونو ولاړ وي، هرو مرو په درد خوري، خو که شخصي، مغرضانه او گمراه کوونکي وي، هرومرو د ټولنې عمومي افکار یوه نامعلوم لوري ته بیایي.

دغه معلومات یوازې د ملي امنیت شورا دفتر او نورو دفاعي او امنیتي بنسټونو د اجراآتو، صلاحیتونو او مسولیتونو د وضاحت په خاطر وړاندې شول چې خلک د خپلو مسوولانو په هکله هم پوه شي او هم قضاوت وکړي. لاندې په لنډو کې د هر ډول ناسم پوهاوي د مخنیوي په خاطر مهمو او اساسي شاخصونو ته اشاره شوې چې امور سره تفکیک شي.

**لومړی: د ملي امنیت شورا او ملي امنیت شورا دفتر ترمنځ توپیر**

۱. ملي امنیت شورا په مهمو مسایلو کې د تصمیم نیولو د تر ټولو مهمې مرجع په توگه د اساسي قانون د ٦٤ مادې په رڼا کې رامنځته شوې ده.

۲. ولسمشر د اساسي قانون د ٦٤ مادې له حکم سره سم چې هلته «د وسله وال ځواک د اعلی قیادت» موضوع مطرح شوې، د ملي امنیت شورا رییس هم دی.

۳. د ملي امنیت شورا په غړیتوب کې د ولسمشر د مرستیالانو، د دفاعي او امنیتي برخې وزیرانو او بهرنیو چارو او مالیې وزیرانو تر څنگ د ملي امنیت سلاکار هم غړیتوب لري.

۴. د ملي امنیت شورا دفتر لومړی ځل د انتقالي دولت په موده کې د وخت د مشر په ځانګړي حکم جوړ شو او تراوسه له لازم تعدیل سره د ملي امنیت شورا د «دارالانشاء» یا «سکرتریت» چارې پر غاړه لري.

۵. د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار په افغانستان کې «د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ملي امنیت سلاکار» بلل کېږي. په نورو هېوادونو کې هم په بېلابېلو عنوانونو یادېږي، لکه: د ملي امنیت مشاور، د ملي امنیت شورا منشي، د ملي امنیت شورا سکرتر او د جمهور رییس د ملي امنیت سلاکار.

٦. د ملي امنیت سلاکار خپل مسوولیتونه د ملي امنیت شورا د رییس او غړیو د هدایاتو په رڼا کې ترسره کوي.

۷. د ملي امنیت شورا دفتر یو کوچنی تشکیل لري چې له وړ کارپوهانو او کارکوونکو جوړ دی او یوازې د مسلکي اړتیا پر بنسټ تعیین شوي او کار کوي.

**دویم: اجرایي میکانیزمونه**

۱. د ملي امنیت شورا دفتر خپلې دندې د ځانګړې مقررې پر اساس چې «د ملي امنیت شورا د اجراآتو د تنظیم مقرره» بلل کېږي، ترسره کوي.

۲. دغه مقرره هر ځل د انتخابي ولسمشرۍ دورې له پیل وروسته د ملي امنیت شورا تر تصویب وروسته، د اجرا وړ ګرځي.

۳. همغږي، چټکوالی او د دفاعي او امنیتي مسوولیتونو آسانتیا د ملي امنیت شورا دفتر دندې دي چې موږ یې په خپل کاري چاپېریال کې «کاري اساسي اصول» هم بولو.

۴. د ملي امنیت شورا مصوبې، د ملي امنیت شورا د رییس مستقیم هدایات او د هېواد امنیتي لومړیتوبونه هغه عناصر دي چې د ملي امنیت شورا دفتر چوکاټ تعیینوي.

۵. د ملي امنیت شورا دفتر د خپلو اصلي دندو یا اساسي کاري اصولو د اجرا لپاره دغه کاري بڼې لري:

۱) د ولسمشر په مشرۍ د ملي امنیت شورا ناستې او د غړیو ګډون.

۲) د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندانۍ ناستې، د ولسمشر په ریاست او د دفاعي او امنیتي برخې د وزیرانو په ګډون.

۳) د ملي امنیت سلاکار په مشرۍ، د لویو امنیتي ناستو مشرۍ، د دفاعي او امنیتي ځانګې د وزیرانو په ګډون.

۴) د ملي امنیت سلاکار په مشرۍ، د اړونده وزارتونو د معینانو په ګډون، د مرستیالانو د کمېټې ناستې.

۵) تخنیکي بین الوزارتي ناستې، د محوله چارو د اجرا د اطمینان لپاره پلټنه او تعقیب.

٦) په پورته یادو ناستو کې د ارزونې او تصویب په خاطر د مهمو امنیتي اسنادو تسوید او تدقیق.

۷) د دفاعي او امنیتي او نورو اړونده بنسټونو ترمنځ د چارو همغږي او څارنه.

۸) د ولسمشر او نورو بنسټونو له خوا د امنیتي لومړیتوبونو پر بنسټ نورې چارې چې دغه دفتر ته سپارل کېږي.

دریېم: مهم کارونه او لاس ته راوړنې

د ملي امنیت شورا دفتر له جوړېدو راهیسې په سیاسي، امنیتي، پوځي او نورو برخو کې چې له دغه دفتره یې غوښتنه شوې، ډېرې لاس‌ته‌راوړنې لري چې لاندې به یې څو مهمو ته اشاره کوو:

۱. د ملي امنیت او بهرنۍ سیاست اړوند اسنادو تسوید او تصویب

۲. له دوستو هېوادونو سره د بهرنیو اړیکو پیاوړتیا

۳. د هېواد د دفاعي او امنیتي ځواکونو د ملاتړ او پیاوړتیا لپاره له دوستو هېوادونو سره مذاکرات

۴. له اړوندو کورنیو او نړیوالو مراجعو سره د سیاسي، پوځي، امنیتي او تخنیکي چارو آسانتیا او همغږي او له ناټو سازمان او امریکا سره د امنیتي همکاریو د هوکړو د تطبیقي اسنادو څارنه

۵. له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو د پیاوړتیا لپاره د اړونده بنسټونو ملاتړ

٦. د دفاعي او امنیتي برخې د پیاوړتیا او محلي حکومتولۍ د ښه والي لپاره د امنیتي او حکومتولۍ د کاري چوکاټونو رامنځته کول، د بېلګې په توګه د کابل ـ بامیان امنیتي ناستو پرېکړې

۷. د راتلونکو دفاعي او امنیتي پروګرامونو په تدوین کې له دفاعي او امنیتي بنسټونو سره همکاري

۸. د هېواد د دفاعي او امنیتي ځواکونو د شهیدانو او ټپیانو او د هغوی د کورنیو وضعیت ته رسېدنه

د یادونې وړ ده چې د ملي امنیت شورا دفتر هغو کاري اصولو ته په پابندۍ چې همغږي، چټکتیا او آسانتیا ده، د نورو بنسټونو په تېره بیا دفاعي او امنیتي برخې په چارو کې لاس وهنې ته لېوالتیا نه لري. له ټولو بنسټونو په تېره بیا امنیتي هغو سره د ملي امنیت شورا دفتر اړیکې تعریف شوې او روښانه ده او په دې برخه کې هیڅ ابهام نه شته. د دفاعي او امنیتي ځواکونو اتلولۍ او ویاړونه په هغوی او د افغانستان په ملت پورې تړاو لري. په اوسنیو شرایطو کې چې دفاعي او امنیتي ځواکونه له کومو ننګونو سره مخ دي، انکار ترې نه شي کېدای، له دې هم انکار نه شي کېدای چې د حل لپاره یې جدي هڅې روانې دي. د ملي امنیت شورا د دفتر له نظره، د دفاعي او امنیتي بنسټونو وزیران او منسوبین د هېواد په اساسي قانون کې خپل مشخص ځایونه لري.

په پای کې دا موضوع هم باید جوته شي چې د هېواد د دفاعي او امنیتي برخې مشري په ټولو کچو کې ځواب ویلو ته حاضره ده او لکه څنګه چې هېوادوال هم شاهدان دي د ملي امنیت سلاکار ډېر رسنیز حضور لرلی، د خبریالانو پوښتنو ته یې په ناستو کې ځوابونه ویلي دي. د امنیتي منسوبینو، قومي مشرانو، افسرانو او سرتېرو پوښتنو ته یې په ولایتي سفرونو کې ځوابونه ویلي، له سیاسي مشرانو، وکیلانو، د مدني ټولنو له استازو، خبریالانو او قومي متنفذینو سره یې ګڼ تماسونه لرلي دي. د ملي امنیت شورا دفتر روښوالی «پاسخګویي» یو اصل ګڼي، خو دا تصور او تمه ناسمه ده چې ګواکې د ملي امنیت شورا دفتر به د ورپسې پېیلو او ناپېیلو ټولو چارو ځواب وایي.





په هېواد کې د جګړې پراختیا د خلکو ژوند له ستونزو سره مخامخ کړی دی. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت شمېرې ښيي چې یوازې په تېرو ۱۵ ورځو کې څه د پاسه څوارلس زره کورنیو خپلې سیمې پرې اېښې او امنو سیمو ته کډه شوې دي.



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.






د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس وایي: په دغه ولایت کې یو شمېر تاریخي ځایونه او آثار چې د افغانستان د تاریخي هویت څرګندونه کوي، د روانې جګړې له امله د ویجاړېدو له ګواښ سره مخ دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت چین ته د طالب پلاوي د سفر په غبرگون کې ویلي: افغان دولت له دغه هېواده تمه لري چې د سیمه ییزې اجماع او تاوتریخوالي د پای ته رسولو، اوربند د ټینگښت، د سولې د راتلو او په هېواد کې د بهرنیو ترهگرو د فعالیت بندولو لپاره پر دغې ډلې د فشار په راوړلو کې رغنده رول ولوبوي.

